ادع الى سبيل ربك بالحكمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتي هي احسن الآية

د توحيد او جهاد مجله

دعوت

٤٠ گڼه

د افغانستان د جماعة الدعوة الى القرآن و السنة د افکارو خپرونکې

د دعوت مجلې (٨) مه کلیزه

إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ
مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي
إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ
وَإِلَيْهِ أُنِيبُ (سُورَة هُود ٨٨)

الهی فرمان

بسم الله الرحمن الرحیم

قال الله تعالی : «ومن یقتل مؤمناً متعمداً فجزاءه جهنم خالداً فیها وغضب الله علیه و لعنه و أعد له عذاباً عظیماً»

(سورة نساء-۹۳)

ترجمه: هغه څوك چې يو مؤمن قصداً قتل کړی پس جزا دده جهنم دی، همیشه به وی په دې کې او غضب د الله تعالی به وی په ده باندې او لعنت په وی به ده باندی او تیار کړی ئی دی ده لره عذاب لوی.

بسم الله الرحمن الرحيم

«قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين»
سورة يوسف (١٠٨)

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

دامتیاز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة
مؤسس: شهیدشیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)
سرپرست: الشیخ سمیع الله
خپرونکی اداره: ددعوت او ارشاد ریاست

اتم کال پرله پسي گڼه (٤٠) ١٤١٦ هـ ق د محرم الحرام-صفرالمظفر او ربیع الاول میاشتی

دهیئت تحریر تر نظارت لاندې

دې گڼې مطالب

عنوان — مخ

* د جهادي ځواکونو د یو موټي کیدو وخت(سرمقاله) ..٢
* د دعوت مجلې د اتم نشراتي کال په مناسبت........٤
* افغان مسئله ولي په خبرو اترو نه ٦
* د کابل ښار ورو ورو نوی ساه اخلي...........٨
* د شرك او توحید بنیادي جگړه..............١٠
* قدرت د اسلام د خدمت لپاره وسیله ده........١٦
* د حسین (رضي الله عنه) شهادت..............٢١
* غوره ویناوي.................................٢٤
* د تعزیه تاریخي او شرعي حیثیت...............٢٥
* د عاشورې د ورځې فضیلت......................٢٨
* د مخابراتو وزارت له سرپرست سره مرکه........٣١
* د صحابه ؤ ژوند ته یوه کتنه..................٣٣
* هستوي وسلې.................................٣٧
* د اسلام ستر فاتح.............................٤٠
* د ستوني خوږ...........(صحي مضمون) ٤٣
* نبوي ملغلري.................................٤٦
* پرسشهاي شما در روشني قرآن و سنت...........٤٧

په پاکستان کې د
گڼون بیه:
میاشتنی: ١٠ کلداری
کلنی: ١٠٠ کلداری

په نورو بهرنیو هیوادونوکې د
گڼون بیه:
میاشتنی: ٢ امریکائی دالر
کلنی: ١٠ اریکائی دالر

په داخل او په پاکستان کې زمونږ
نمایندگان

په داخل کې: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد
پېښور: غنی الله «مسلم»
لاهور: حماد شاکر
کراچی: چوهدری ظهور احمد
کوټه: عرفان منگل
مظفر آباد: بشیر قریشی

په نورو بهرنیو هیوادونوکې زمونږ
نمایندگان

سعودی عرب
امریکا: عبدالرحمن احمد
بریطانیا: منور علی
جرمنی: وائی - ایم حمیم
هالینډ: عماد الدین بکری اسماعیل

مکاتباتی پته «دعوت مجله» - پوست بکس نمبر ٦١٤ پشاور پاکستان
بانکی حساب: افغان اسلامي خبري اداره اکاونټ نمبر ١٠٦٣/٧ نیشنل بینك اف پاکستان-صدر روډ - پشاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

د جهادي ځواکونو د يو موټي کيدو وخت دی

د افغانستان مجاهد ملت چی په کوم احساس او د کوم سپیڅلی هدف د پاره پوره څوارلس کاله وسله وال جهاد کړی ډی او په نتیجه کی ئی د کوم هدفمند اسلامي حکومت د جوړولو د پاره قرباني ورکړی دی په هغی باندي نه یوازی د عالم اسلام شمله اوچته شوی ده بلکه اکثره دنیا والو افغاني جهاد د جهاني سوسیالستی بلاك د دړی وړی کیدو اصلی عامل هم بللی او تسلیم کړی دی. خو دا چی ولی زمونږ جهادی مشرانو او په جهاد کی د لومړی صف رهبرانو دی هدف ته د رسیدو لاره دومره اوږده او کړکیچنه کړی ده یو مهم سوال دی چی باید وریاندی خبری وشی.

د جهاد لومړنی مقصد خو دا ؤ چی د کمونستی نظام دړنګیدو سره جوخت د اسلامي حکومت د جوړیدو بنسټ کیښودل شی لکه څنګه چی د کونړ ولایت د ملحد رژیم څخه ازاد کړي شو او شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دغه هدف په دي ولایت کي عملی کړی ؤ او د یو اسلامي امارت بنیاد ئی کیښود. د ټولو نه لومړي خو باید د جهادی صفونو له خوا دغه اسلامي حکومت مستحکم کړی شوي وي او ټولی نړۍ ته د افغاني جهاد د څوارلس کلنی ثمری په حیث یوه نمونه ښودل شوي وي.

خو له بده مرغه نتیجه برعکس را ووته، د قدرت په سر جنجالی او خونړی جنګونه د دی سبب شول چی د جهاد دښمنان ئی خوشحاله او دوستان ئی خواشینی کړل څکه نو د مجاهدینو عام اعتراض په مشرانو دا دی چی د جهاد اهداف ئی سم تشخیص او عملي نکړل او خپل ټول کړه وړه ئی په اختلافاتو کی منحصر پریښودل او د مسئلی د حل دپاره ئی د خبرو په ځای د توپ او ټوپك استعمال ته ترجیح ورکړه. اوسنی سیاسی بحران بی له شکه زمونږ د مشرانو د اختلافاتو په نتیجه کی را پیدا شوی دی او همدوی دی چی دغی مداخلی اولاس وهنی ته ئی امکانات برابر کړی دی. که چیری زمونږ د جهاد د لاری رهبران هر یو وغواړی، د خارجي مداخلی مخنیوی وکړی دا کار ناشونی نه دی خو دغه اقدام په هغه وخت کی ښه اغیزه کولی شی چی د زړه له کومی د جهاد اهداف په عمل کی پلی شی او د في سبیل الله جهاد په رڼا کی د قرآن او سنتو احکامو ته په درناوی سره وکتل شی د عمل په ملګرتیا د ناخوالو سره د مبارزي ډګر ته را ووځی.

په داسی حال کی چی د دوه کالو راهیسي په نړیواله سطحه د افغانستان د سیاسی بحران د حل

په مقصد د ښاغلی محمود مستیری او د اسلامي کانفرانس د تنظیم د مشر حامدالغابد په وسیله هلی ځلي رواني دی خو دا چی تر اوسه پوری ئی هیڅ مثبته نتیجه نه ده راوتلی یوازینی علت ئی بیا هم د مشرانو خپل منځی بی اتفاقي او د اسلامي حکومت په وړاندی د عدم تعهد خبره مطرح او د دی زمینه ئی پردو ته برابره کړی ده چی زمونږ په سر نوشت لوبي کوي.

تر کومه ځایه چي سیاسي بهیر څرګند کړه ټولو کورنیو او بهرنیو مصلحینو او منځګړو نه یوازې د جهاد د اهدافو په چوکاټ کي د مسئلي حل رامنځته نه کړ بلکي افغان مسئله ئي لاپسي بحراني او کړکیچنه کړه او همدغه سیاسي کړکیچ اوس د دي سبب شوي دي چي د جهادي لیکو نه بهر د یو بل قوت په رامنځته کیدو کي په ملي او بین المللي سطحه هڅي شروع شوي دي چي بیا هم عامل او انګیزه ئي همدا مشران، همدا جنګونه او اختلافونه دي او بس.

اوس چي د اسلامي حکومت د جوړیدو په پړسه کي کوم خنډونه موجود دي او لا زیاتیږي، یوازیني علت ئي بیا هم داخلي او خپل منځي اخو ډب دي چي د ټول هیواد سیاسي صورت حال ئي د خپل منځي اغیزي لاندي راوړي دي او داسي هڅي رواني دي چي د جهادي هویت د ختمولو لپاره ټول دښمنان سره لاسونه یو کړي او خپلي غیر اسلامي طرحي او منصوبي عملي کړي.

تر کومه ځایه چي د جماعت الدعوت موقف دي مونږ همیشه د جهاد د اهدافو سره سم د اسلامي حکومت په جوړیدلو ټینګار کړي او هر مسلمان افغان چي د دغسي حکومت په جوړولو کي لاس کولي شي د دي جماعت د همکاري نه به پوره برخورداره وي. په هر حال اوس هم وخت تیر نه دي او د دي فرصت لاشته دي چي ټول جهادي تنظیمونه د خپل جهادي نصب العین سره سم اختلافونه ختم کړي او په یو غږ او یو مصلحت د ټولو نه اول په خپل هیواد کي خارجي مداخلت بند کړي او بیا د ټولو ناخوالو په پاي ته رسولو سره هغسي حکومت جوړ کړي د کوم د پاره چي د یونیم میلون شهیدانو ويني توي شوي دي.زمونږ له نظره هر هغه د سولي طرحه د بري درشل ته رسیږي کومه چي د افغانستان د حدودو دننه رامنځته شي او په یوه اسلامي فضاء کي تنفیذ شي. مونږه د ټولو اسلام دوستو هیوادونو د سولي د هر اهتمام څخه متشکر یو مګر د دي ذکر ضروري ګڼو چي دوي باید اصلي حقایق او د افغانستان د مسلمان ملت واقعي دردونه درک کړي او داسي حالت رامنځته نه کړي چي حالات نور هم کړکیچن شي. د سولي په طرحو کي هغه افراد او تنظیمونه ورګډ کړي کوم چي د جهاد په اوږدو کي د مسلمان مجاهد ملت تر څنګه پاتي شوي او ټولي تودي سړي ئي ګډي تیري کړي وي، څکه همدوي کولاي شي چي روان بحران حل کړي او د دي ملت سرنوشت وټاکي، که دلسي هلي ځلي وشي چي هغه د افغان مسلمان ملت د ارادو سره منافي وي نو کیدي شي چي د افغانانو په دردونو کي نوره هم اضافه وکړي،غیر اسلامي او غیر جهادي ګوندونه او افراد ولو که نن قوت هم لري د دي حق نلري چي د ملت د سرنوشت په جوړیدو کي ونډه واخلي.

جماعة الدعوة الي القران والسنته ټولو مسلمانو افغانانو ته په هر ځاي کي چې وي د دي حق ورکوي چي د دي هیواد په بیا ابادي کي هلي ځلي وکړي او د ملك د حالاتو په اصلاح کي کوشش وکړي،که بالعکس د سلطي او ټولواکي فکر او اراده ولري نو دا به حالات سم نه بلکه نور هم ضرري کړي او د جنګ بله جبهه به خلاصه کړي او ذمه واري به د دوي په غاړه وي.

د دعوت مجلې د اتم نشراتي کال د پيل په مناسبت

د انسان کردار او عمل د دوه ډوله نيت او ارادې زيږنده ده. که د انسان نيت او اراده نيکه او احسنه وي، نو رحماني دي خو که د شرارت او فساد نه ډك وي نو د خودخواهۍ او شيطاني احساس مولود وي.

قلم د نيکۍ او فضيلت نه ډکې کارنامې په خوښۍ او افتخار سره د تاريخ غيږې ته سپاري،خو د شرارت او فساد نه ډکو واقعاتو له ثبت او ليکلو نه کرکه کوي. د قلم له زخمي سينې نه هغه وخت چيغې او فرياد راپور ته کيږي چې د حقيقت له ليکلو نه لرې پاتې شي.

په تيرو شپاړسو کالو کې مونږ د حوادثو او واقعاتو د ثبت دوه ډوله طريقې په خپلو سترگو وليدې، يو طرفته کمونست اشرار او دهري گمراهان، د شلم قرن ستمگران او د تاريخ يرغلگران وو چې خپل وحشت ئې په عدالت، جنگ ئې په سوله او انسان وژنه ئې د انسان په خدمت توجيه کوله چې قلم هم د دغو رهزنانو په لاس د تاريخ د ليکلو نه نفرت کاوه.

مونږ وليدل چې روسانو په څومره بې شرمۍ او سفاکۍ خپل وحشيانه يرغل ته په افغانستان کې د امنيت د ټينگښت او د افغانستان د خلکو سره د مرستې او معاونت نوم ورکاوه،څنگه ئې خپل ظلم او بربريت انسان دوستي او د ښه گاونډيتوب د حقوقو اداء کول گڼل، څنگه ئې کليو او ښارونو ورانولو او تخريبولو ته د خپلې همدردۍ او د افغانستان د عمران او آبادۍ او زمونږ هجرت او آوارگۍ ته ئې زمونږ د فرار او فريب خوړلو نومونه ورکول. خو بل طرفته د حق پلويان ولاړ و چې د روسي بيداد او وحشت نه ئې پرده اوچتوله او د ظالمانو او يرغلگرو انسانيت دښمنه اعمال ئې رسوا کول.

ښاد دې وي هغه ليکوال چې د الله تعالی د لارې د شهيدانو د پاکې وينې رنگ ئې په خپلو حماسه افرينو آثارو د نړۍ قضاوت ته وړاندې کړ!

شاد دې وي هغه ليکوال چې د قلم په ژبه ئې د افغان يتيم بچي سوې زگيروې د نړيوالو غوږونو ته ورسول !

نيکمرغه دې وي هغه ليکوال چې د افغانستان د مسلمانانو د هجرت او غربت د کيږديو حال ئې د قلم په نوکه ترسيم کړ!

نيکمرغه دې وي هغه ليکوال چې د نيکۍ د جگړې داستان ئې له بدۍ سره، رحمت ئې له وحشت سره او عدل ئې ظلم سره وليکه او اوس هم لگيادي د جهاد او مجاهدينو د برياليتوبونو او د کفارو او د د هريانو د شکست او رسوائي رويداد ليکي او مجاهدين د برياليتوبونو او د اختلافاتو مخنيوي ته هڅوي.

د جهادي آثارو او نشراتو په لړ کې يو هم د «دعوت» مجله ده چې د يو ځلانده ستوري په حيث اته کاله وړاندې د خپل موسس شهيد شيخ جميل الرحمن(رحمه الله) په نوښت د مطبوعاتو په آسمان کې راښکاره شوه او ترننه ئې د اسلام او جهاد د فضيلت او برترۍ او د کفراو شرك د بطلان لپاره د زياتې اندازې پورې خپل رسالت سرته

رسولی.

الله تعالی فرمائی:«إن أرید إلا الاصلاح ماستطعت و ما توفیقي إلا بالله علیه توکلت و إلیه أنیب»(سورة هود-۸۸)

د دعوت مجلی یوازنی هدف د مسلمان امت اصلاح او هغه لوی رسالت ترسره کول دی کوم چی د انبیاء کرامو، صحابه ؤ، تابعینو، تبع تابعینو او امامانو مونږ پوری رارسولی دی.

د اسلامی او مجتمع تحفظ د افتونو څخه د ساتلو لپاره ضروری ده چی یوه‌ډله د بلنی او دعوت دنده ترسره کړی.

الله تعالی فرمائی: «ولتکن منکم أمة یدعون إلی الخیر و یأمرون بالمعروف و ینهون عن المنکر و اولیك هم المفلحون»(سورة آل عمران -۱۰٤)

دا مجله د یو داسی دعوتی او جهادی تنظیم نشراتی ارگان دی چی د حزب الشیطان یعنی کمونستی او دهری پرچمی او خلقی باندونو او د کفر او شرك د نورو هواخواهانو نه علاوه د دوستۍ په جامه کی هم دښمنان او مخالفین لری.

دعوت مجلی د خپل بنیادی هدف د حصول تر څنگ کوشش کړی دی چی د مخالفینو هغه بی بنیاده تورونه رد کړی کوم چی په غناد سلفی بلندویان تورن کړی او د مسلمانانو اذهان د دوی په وړاندی مغشوشول.

دعوت مجلی کوشش کړی چی په دینی او شرعی مسائلو کی د لوستونکو پوښتنو ته د قرآن اوسنت او د نیکو اسلافو د اقوالو په رڼا کی ځواب ووائی او همدارنگه لوستونکی د انبیاءکرامو،صحابه ؤ او د دین د امامانو له سیرت او ژوند سره آشنا کړی.

د دی ترڅنگه «دعوت» مجلی د افغانستان مسلمان ملت د نړۍ د مسلمانانو د حالاتو څخه وخت په وخت او د نړیوال استکبار او طواغیتو هغه دسایس چی د اسلامی امت د انحراف او بربادۍ لپاره جوړ کړی افشا کړی او مسلمانانو ته ئی خپل بنیادی دښمن وړبه گوته کړی دی.

همدارنگه د کوم وخت راهیسی چی د افغانستان سیاسی قدرت مجاهدینو ته انتقال شوی د دعوت مجلی زیار ایستلی چی د چارو مسئولین خصوصاً جهادی مشرتابه خپلو خطاؤ ته متوجه کړی، د ذات البینی اختلافاتو د ختمولو لپاره ئی گټور وړاندیزونه کړی، د خیرخواهۍ او صلحی غوښتنی پیغامونه ئی نشر ته سپارلی. د دی لپاره چی د افغانانو عملی یووالی په لور مو یو قدم اخستلی وی د لومړی ځل لپاره «دعوت» مجلی د مختلفو تنظیمونو، د دولتی ادارو‌مسئولینو او نورو قومی مشرانو سره وخت په وخت مرکی کړی او لوستونکو ته ئی وړاندی کړي.

د «دعوت» د مجلی کارکوونکی د خپلی مجلی اتم کال په داسی شرائطو کی لمانځی چی هیڅ توقع ئی نه کیده او هیواد لاهماغسی د کمونستانو پلاس په بل شوی اور کی سوزی.

زمونږ شهید مشر به د تل لپاره جهادی مشرانو ته د دی ډول پیښو د راتلو په باب پیش بینی کولی او ویل به ئی چی جهادی مشران دی خپل اختلافات د قرآن او سنت په رڼا کی حل وفصل کړی.

په هر صورت «دعوت» مجله زیار باسی چی په اوس او راتلونکی کی د قرآن اوسنت ترجمانی او په مسائلو او احکامو کی د صحابه ؤ او تابعینو او تبع تابعینو لاریون وکړی او آرزو لری چی د افغانستان د مسلمان ملت بی شمیره قربانیو د اسلامی حکومت په قیام کی منتج شی. د اسلامی تحریك د بچیانو تر منځ عملی وحدت را منځ ته شی او افغانستان لکه چی توقع کیده د اسلامی امت د مستضعفینو د امیدونو مرکز وگرځی.

په دی رابطه دعوت مجله خپل مسئولیت پیژندلی او د زیاتو خدمتونو لپاره د الله تعالی څخه توفیق غواړی دا هر څه هله کیدای شی چی لوستونکی هم په اخلاص سره مرستندوی شی.

(وماتوفیقی إلا بالله العزیز)

افغان مسئله ولې په جرګو مرکو نه حل کیږي ؟

د سترګه ور په قلم

څه د پاسه درې کاله کیږي چې په ملي او بین المللي سطحه په افغانستان کې د اختلافونو د لرې کولو او دجنګونو د بندولو د پاره د جرګو مرکو له لارې هڅې او کوششونه روان دي خو بیا هم نه یوازې لا تر اوسه پورې د چا خبره د مشورې سر نه دې پیدا شوې بلکې د وخت په تیریدو سره اختلافات شدید کیږي او د مشرانو تر مینځ فاصله زیاتیږي.

د پیښور د ابتدائي لوظنامې نه نیولې بیا د اقتدار د قبضه کولو پورې چې د کمیت او کیفیت په لحاظ ورته تاریخي غونډې ویل کیدلې او بیا چې لادغه معاهدې په مکه معظمه کې نورې هم پخې شوې او هلته په معاهدو باندې د عمل کولو د پاره په کلام الله لاسونه هم کیښودل شول،دغه ټولې وعدې ولې ماتې شوې؟

جنګونه ولې بند نه شول؟او اختلافونه لا ولې په خپل حال باقي دي؟دیرې انګیزې او عوامل لرې خو په دې ټولو کې عمده عامل ئې دادې چې زمونږ مشران یو بل ته غاړه نه ږدي،یو بل نه شي تحمل کولې یو د بل نه مخکې کیدل غواړي او شخصي منافع ئې په ملي منافعو مرجح شمیرلې دي او په ټولو کې د کرسۍ او اقتدار مسئله مخکښنه ګڼل شوې ده.

د ملګرو ملتو د صلحې پروګرام چې حساسې مرحلې ته ورسید د میکانیزم د جوړولو نه مخکې دړې وړې شو،د اسلامي کنفرانس نمایندګانو چې د صلحې د پاره کومې منډې ترړې وکړې ټولې اوبو یوړې ، په داخلي سطحه چې د تنظیمونو څو برابره څومره کمیسونونه جوړ شول د ټولو نتیجې بابیزه راووتې،لنډه دا چې په جنګ کې ښکیلې ډلې هر یو امتیازات غواړي او یو هم د امتیازاتو د ورکولو والا نه دې ځکه مسئله کړکیچنه ده او لا هم د کړکیچ په لور روانه ده.

په دې وروستیو وختو کې د مشرقي شورا یو ځلې بیا د خپلو پخوانیو صلحه ایزو تحرکاتو په لړ کې د یوې سراسرې غونډې د

جوړولو د پاره مشرانو ته بلن لیکونه ولیږل او داسی امیدواری کیدله چی ګنی څه ناڅه د جنګ بندیږ د پاره به کردار ادا کړی شی،خو ولیدل شو چی دی غونډی ته هم د یوی خوانه دوهم او دریمه درجه نمایندګان معرفی شول د بلی خوا نه د پخوا په شان د نمایندګۍ په سر سیاسی ملاحظات د دی سبب شول چی غونډه بیخی جوړه نهٔ شی چی دا هم د افغانانو ا و مجاهدینو د پاره د تشویش وړ خبره ځکه ده چی ددی نه وروسته د غونډې جوړیدل هم ګران شوی دی او د مشرانو مخامخ کیدل په یوی معما بدل شویدی.

دا ولی؟ دا ځکه چی زمونږ مشرانو د ښوارلس کلن جهاد سپیڅلی اهداف هیر کړی دی او د قدرت د نیولو او قدرت د ساتلو غریزی وربانډی غلبه حاصله کړی ده، د ملت په وړاندی د مسئولیت احساس نشته او د وطن دوستیږ خبره د منځه وتلی ده او په مادی تقسیماتو د ملت ټول فعل او انفعالاتو تمرکز پیداکړی دی.

په دی ورځو کی چی د جلال آباد غونډه هم د ناکامیږ سره مخ شوه د اسلامی کنفرانس غږ ته چا غوږ کینښود او ښاغلی محمود مستیری ته د صلحی د ټول میشن څخه د کابل په خلکو باندی یوازی د پتکی او ډرکی پاتی دی بی د دینه چی وروایو افغان کشاله یو ځلی بیا د بی سرپرستیږ او بن بست سره مخامخ شوی ده د امیدواریږ بله مرجع په اوسنی وخت کی وجود نلری،خو هغه شی چی ښه ډیر دی او هر چرته دی هغه جنګونه دی او په خپلو کی د افغان وژنی او مسلمان وژنی بوګنونکی واقعات او واردات دی.

که د متخاصمو ډلو تر مینځ د ځایونو په قبضه کولو او د لاسه ورکولو باندی کوم کار کیدی نو په تیرو دری کالو کی ډیرو جنګی ډلو یو د بل څخه زیات ولایات، اولسوالیږ او کلی وینول او بیرته ئی د لاسه ورکړل د ملك جمهور ریس او صدراعظم په خپلو کی ډیری ډغری سره وهلیږ،زیاته فزیکی او انسانی خساره ئی ملت ته واړوله خو بیا همغه درك خرك دی همغه جنګونه او تباهی ده او د دنیا والو په وړاندی ئی د افغانستان او افغانانو تاریخی هویت ته سخت نقصان ورساوه او د ښوارلس کلن سپیڅلی جهاد په اهدافو ئی پښی کیښودی.

اوس چی د افغان کشالی د هواری د پاره کومه نسخه او کوم امید پاتی دی هغه د یو ملی یووالی نه پرته نور څه په پس منظر کی نشته،خو د دی کار د پاره هم د یو سالم لیډرشیپ ضرورت دی چی دا هم د احتمالاتو خبره ده تر څو ولیدل شی مشران څه کوی او د خاموش اکثریت مسلمان ملت عکس العمل به څه وی؟

د کابل ښار ورو ورو نوی ساه اخلي

په دي ښار کي د اجتماعي او اقتصادي فعالیتونو څرخونه په حرکت راغلي دي

په کابل کي د مجلې خبریال

د کابل سمسور او لرغونی ښار چی د دری کلنو تپل شوو او ناجایزو جنګونو په ماتم کی په سلو کی شپیته ویجاړ شوی دی او د لومړی ځل د پاره پکی د ۱۳۷٤کال د حمل د لومړۍ نیټی څخه امن قایم شوی دی او دولت په دی بریالی شوی دی چی خپل مخالفین د کابل د ښار او شاوخوا نه لری کړی د کابل ښار هم ورو ورو نوی ساه اخلی او ښاریان په اجتماعی او اقتصادی ډګر کی د بیلا بیلو فعالیتونو په لړ کی په خپلو پښو ودریږی.

اوس د کابل د ښار په ټول قلمرو کی عادی ژوند ټینګ شوی دی،ترافیکی سالم جریان او ښاری ټرانسپورټیشن د پخوا پشان فعال شویدی د جنګ اکثره مهاجرین چی د جنګ په دوران کی د سولی په ټینګیدو سره اوس بیرته خپلو خپلو کورونو ته تللی دی او د انتقال دغه سلسله اوس هم رروانه ده.

په سیاسی لحاظ دولت د یوی ورځی نه بلی ته پیاوړی کیږی او د هیواد په سطحه په ټولو نظامی فعالیتونو کی ئی په مخالفینو برلاسی حاصل کړی دی، د طالبانو سره ئی د جنګ په عوض د صلحی لاره خپله کړی ده لکه چی تر اوسه پوری دواړو خواؤ د پنځه پنځو سو څخه زیات جنګی اسیران تبادله کړی دی او ټاکل شوی ده اوسنی غیر رسمی خبری د صلحی د منځګړو په ذریعه په رسمی مذاکراتو بدلی شی.

اوس اوس چی څومره سیاسی ماحول ښه کیږی ورسره جوخت د کابل ښاریانو ورځنی ژوند هم عیاریږی او د کار روزګار او اقتصادی مثمرو فعالیتونو زمینه ورته برابریږی اوس د کابل په ښار کی په ټولو سیمو او علاقو کی تګ راتګ د پخوا پشان عادی حالت ته راګرځیدلی او د تیرو څلورو میاشتو سره د مقایسی وړنه دی.

که څه هم د کابل په جنوب او جنوب غرب او شرقی برخوکی اکثره شخصی او دولتی ودانۍ جنګونو خوړلی دی خو د بیاجوړولو پروسه په شدت سره پیل شوی ده او په شخصی او سرکاری حیثیت د کابل د ښار د ورانو ویجاړو ترمیم شروع دی،غیردولتی بهرنیو موسسو یو پر بل پسی د بیا جوړونی د پاره د بیلابیلو وزارت خانو او موسساتو په سطحه مادی مرستی بیلی کړی دی او هری موسسی په خپل وار سره د کابل په ښار کی د ضرورتی بیاجوړونی کارونو ته اوږه ورکړی ده.

همدارنګه د کابل په ښار کی د بهرنیو انجوګانو د مرستو سره سره یو شمیر بهرنیو هیوادونو هم په مختلفو برخو کی په جنګ کی د ورانو شوو تاسیساتو په بیا جوړولو کی په رسمی

اتداو کي وعدي او لوظونه کړي دي او هغه پلمه اوس د منځه تللي ده چي بهرنيانو به ويل په کابل کي جنگ دی او مونږ نشو کولی په داسي نازك او خطرناك صورتحال کي ساختماني او عمراني کارونه سرته ورسوو.

هماغسي چي په کابل کي د بيا جوړولو پروسه روانه ده د اقتصادي تحرکاتو تر څنگ فرهنگي چاري هم ورو ورو سمباليږي دا وخت د کابل پوهنتون او لوړو تعليمي موسسو درسونه شروع شوي دي او د لوړو تحصلاتو وزارت د يوي منبع د وينا له مخي د پوهنتون د پنځلس زره محصلانو څخه اته زره محصلان او د يونيم زر استادانو څخه اوه سوه او شپيته کسان خپلو درسونو ته حاضر شوي دي.دارنگی د کابل د ښار د څوارلسو ولسواليو د جملي څخه د سروبي د ولسوالۍ څخه پرته نوري د- يارلس ولسوالۍ د اسلامي دولت په لاس کي دي په لکونو شاگردانو او زرهاو استادانو خپل درسونه پيل کړي دي او د دري کاله جنگي وقفي نه وروسته په پوره شوق او ذوق سره ښوونځيو او تعليمي مرکزنو ته ځي راځي.

که څه هم د جنگونو له امله دا وخت هر څه تباه شوي دي د محصلانو د پاره ميزونه، چوکۍ،لابراتوارونه او صنفونه د تدريس په معيارونو برابر نه دي خو سره د دی هم تعليمي سلسله تانده ساتلي شوي ده او په دی لاره کي اکثره تعليمي موسسي په مرستو او چندو سره چليږي.

د فرهنگي فعاليتونو په لړ کي شخصي او دولتي ورځپاڼي،جريدي او مجلي چاپيږي او په ځينو ځايونو کي د چاپ د زاړه سيستم په عوض کمپيوټري ماشينرۍ ميدان ته راوتلي ده چي کيدی شي په راتلونکي نژدي وخت کي د مخابراتو او مواصلاتو اوسني مشکلات هم لري شي.

د مخابراتو د وزارت يوي سرچيني د مجلي خبريال ته ويلي دي چي د امريکي د يوي کمپنۍ سره د لاسليك شوي قرارداد مطابق ټاکل شوي ده د افغان امريکا د ستلائيټ تيلفون يو شرکت هم جوړ شي د دی شرکت په جوړيدو سره به په کابل برسيره هرات، مزارشريف،کندوز،قندهاراو ننگرهار کي هم ستلائيټ تيليفونونه ولگول شي چي د نړيوالي مخابري ترڅنگ به د راديو او تلويزيون له نړيوالو پروگرامونو څخه هم استفاده عامه شي.

اوس د راډيو افغانستان د سهارنيو او د شپي د خبرونو سره څنگ په څنگ د کابل ښاريانو د پاره د پخوا په شان د کابل راډيو بيا فعاله شوي ده او هره ورځ دوه ساعته خپروني لري د تلويزيون دستگاه ئی هم فعاله.ده چي د جرنيترونو او بطريو په ذريعه ئی خپروني کتل کيږي.

د راديو تلويزيون يو خبرځای په دی باره کي خبريال ته وويل:

په داسي حال کي چي د کابل په ښارکي بريښنا نشته دی خو بيا هم د جرنيترونو او بطريو په لگولو سره په سلو کي څلويښت ښاريان د تلويزيو ن خپروني گوري.

د يادوني وړده چي د کابل ښاريان لا د برق د نشوالي له امله په تپه تياره کي ژوند کوي او د څښلو د روغتيائي اوبو نه لا محرومه دي دا وخت ښاريان شکايت لري چي کابل ته د بريښنا په تمديدولو او داوبو د ويجاړوشوو شبکو په جوړولو کي جدي اقدامات ولي نه کيږي؟ ښاريان وائي چي اکثره بهرنيو هيوادونو کابل ته د بريښنا د بيا تمديد وعدي او لوظونه کړي دي خو لکه څنگه چي لازم دی هغسي په دی برخه کي سرکاري فعاليتونه يخ روان دی.

که چيري کابل ښار ته بيا برق راشي نو نه يوازي دا چي د ښاريانو ورځنۍ ستونزي به لري شي بلکه د پلچرخي صنعتي سيمه به بيا په فعاليت پيل وکړي او په اوسني وخت کي به له دی درکه د روغتونونو مشکلات هم حل شي.

کابل ښاريان که د يوي خوا نه د سولي په فضا کي خوشحاله دي خو د بلي خوا نه دولتي مامورين او اجيران چي د تنخواه په ذريعه چليږي د اقتصادي بحران په دی وخت کي د سختو اقتصادي مشکلاتو سره مخ دي.يو دولتي مامور دي لړ کي خبريال ته وويل چي د يو مامور لوړ معاش د اتيا زره افغانيو څخه زيات ندي چي يوازي د يوي مياشتي د اوړو څواب ويلي شي په داسي حال کي چي اکثره تنخوا والا کورونه هم نلري او د ژوند ضروريات ئی زښت ډير دي خو قيمتي ورځ په ورځ زياتيږي او د افغانۍ پيسو د ارزښت د لوړيدو لپاره هيڅ تدابير وجود نلري.

د شرك او توحيد بنيادي جگړه

د شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) له خطباتو څخه

نحمده ونصلي على رسوله الكريم امابعد

د دي كنفرانس عنوان «سيرت كنفرانس» نومول شويدی،د سيرت معنا او مفهوم د پيغمبرصلى الله عليه وسلم د ژوند مبارك نقشي او طريقي ته ويل كيږي.كه علماء كرام د جهاد،ادابو او اخلاقو په باره يا بله هره موضوع چي څيړي هغه به د پيغمبر صلى الله عليه وسلم د ژوند يوه برخه وي.

اكثره علماءكرام نن سبا د ممبر په سر داسي مسايل بيانوي چي هغه د عوامو له ذهنيتونو څخه اوچتي وي او په اصل مطلب او مفهوم پوهه نشي.نن سبا چي مونږ گورو په عوامو كي داسي خلك ليدل كيږي چي هغه له اسلام سره ډيره مينه او اخلاص لري مگر د خپلو ځانونو سره د جفا له امله ئي ځانونه د جهل او ناپوهي په لومو كي بنكيل كړي دي يعني له اسلام سره مينه لري خو له اسلام سره مينه په جهالت كوي او له خولو څخه ئي په طبعي ډول داسي الفاظ راووځي چي هغه د جهل او ناپوهي مترادف وي.لكه د مثال په ډول وائي چي «ابوحنيفه رحمه الله وروستني پيغمبر دی، خو اهل حديث هم بد خلك نه دی»دلته دغه ساده او ناپوه مسلمانان د امام ابوحنيفه رحمه الله د مقلدينو او يا د اهل حديثو سره د ميني او محبت اظهار په دغو الفاظو كوي.كه علماءكرام چي د يوي ټولني او معاشري پوهه او علميت پدغه اندازه وي او هغوي ورته د ممبر له سره نور مسايل بيانوي نو تاسي فكر وكړئ چي دا به څنگه وي؟زما له نظره دا خو له دغي ټولني سره زياتي دي.

زه پيغمبرصلى الله عليه وسلم د سيرت په باره كي يو څو ضروري خبري وړاندي كول غواړم او دا ډيره ضروري ده چي مونږ او تاسو پري ځانونه پوه كړو.

۱٤٦۰كاله وړاندي محمد صلى الله عليه وسلم په مكه مكرمه كي زيږيدلی دی،اوس (۱٤۰۷)هجري قمري كال پيل شويدی.دا اسلامي تاريخ د نبي كريم صلى الله عليه وسلم له هجرت څخه چي مديني منوری ته ئي كاوه سرچينه نيسي.د پيغمبرصلى الله عليه وسلم ټول عمر (٦۳) كاله ؤ،(٤۰)كاله د محمد صلى الله عليه وسلم له نبوت او پيغمبری نه مخكي عمر دی او(۲۳)كاله عمر ئي چي كله په پيغمبری مشرف شويدی،تيرشوی دی.

محمد صلى الله عليه وسلم د عبدالله ځوی او د عبدالمطلب لمسی دی، په قوم قريش او مورني ژبه ئي عربي ده.د سيرت كتابونه چي هغه د محمد صلى الله عليه وسلم په باره كي له نبوت څخه وروسته څه بيانوي،قرآن او سنت له دی نه ډك دی.

له نبوت څخه وړاندي محمد صلى الله عليه وسلم يو داسي شخصيت تير شويدی چي په عامو خلكو كي ئي د«امين» په نوم شهرت درلود يعني دا يو داسي شخصيت ؤ چي لا په پيغمبری مبعوث نه ؤ او خلكو ته به چي كومه مسئله پيښه شوه د فيصلي لپاره به ئي ده ته راوړله.

دا د محمد صلى الله عليه وسلم د نيك كردار اثرؤ چي په خلكو كي ئي مقبوليت درلود او دا مقام ورته حاصل شوی ؤ.

د بیت الله ودانی چی کله عربو جوړوله نو د حجر اسود په ایښودلو اختلاف راپیدا شو،هر قوم او هری قبیلی جداجدا غوښتل چی حجر اسود مونږ کیږدو او دا شرف مونږ ته حاصل شي،اختلاف موجود ؤ او دوی پخپل منځ کی نه جوړیدل.لنډه داچی ټول په دی متفق شول او دا شخړه د محمد صلی الله علیه وسلم په لاس فیصله شوه.

په نبی کریم صلی الله علیه وسلم چی کله د لومړی ځل لپاره وحی نازله شوه پداسی حال کی چی رعب او دهشت نیولی ؤ کور ته لاړاو حضرت خدیجی رضی الله عنها ته چی د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اولینه بی-بی ده فرمائی چی زما دی په الله تعالی قسم وی!زه پخپل نفس ویریږم!اما په څه کی پټ کړه!حضرت خدیجه رضی الله عنها ورته د پخوانیو ابراهمی او اسماعیلی علیهم السلام له ادیانو څخه استدلال کوی او ورته وائی ته یو نیکوکار،مهمان نوازه او د ضعیفو او ناچارو یو کومکی او مددگار انسان ئی!تا الله تعالی نه سپکوی،نه دی بدناموی او نه دی رسوا کوی.

هغه څوك چی د هغه اخلاق او اعمال له وړوکوالی څخه ښه وی،داسی انسان خلك فطرتاً او عقلاً هم پیژنی ولو که کوم شریعت پری نه وي راغلی.که پیغمبرصلی الله علیه وسلم مونږ ﷺ دا نه وی ویلی چی له دروغو نه ځان وساتئ! دروغجن فاجر وی او جهنم ته ځی نو که یو څوك سالم عقل ولری ضرور به ورته دروغ د رښتیاؤ په مقابل کی یو بدکار معلوم شی،بداخلاقی د نیك اخلاقی په مقابل کی.خیانت د امانتداری په مقابل کی،ظلم او جفا د رحم او د الله د مخلوق سره د مرستی په مقابل کی هر انسان عقلاً او فطرتاً پیژنی. قبیح او احسن هر سړی پیژندی شی ولو که شریعت موجود نه وی.حضرت خدیجه رضی الله عنها کومه تعلیم یافته ښځه نه وه مگر د سالم فطرت او عقل له مخی ئی دا استدلال وکړ او ورته ئی وویل چی ستا اعمال او کردار د تحسین او مکافات وړ دی.د پیغمبر صلی الله علیه وسلم عادات له نبوت نه مخکی مخکی د اجتماعی اخلاقو،عدل او انصاف او امانتداری په اساس ولاړ وو.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په نفس کی پاکوالی موجود ؤ او په طبیعت کی ئی د الله تعالی بندگی وه،پیغمبر صلی الله علیه وسلم داسی عادت درلود چی څو ورځی به د خلکو له ټولنی څخه یواځی شو او د الله تعالی په یاد کی به مشغول ؤ.کله چی «غارحرا» ته لاړ او د لومړی ځل لپاره پری وحی راغله او دا ایت نازل شو چی:اقرأ باسم ربك الذی خلق*خلق الانسان من علق(سورةالعلق-۱-۲) پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته چی د نبوت پیغام راغی نو ملك ته وائی چی زه لیکونکی او لوستونکی نه یم!نو الله تعالی ورته وفرمایل چی ستا نبوت او حقانیت او د دی کتاب صداقت کوم بل دلیل ته ضرورت نلری ځکه چی که ستا سره جگړه مار خلك دی ته فکر وکړی او وگوری چی محمد (صلی الله علیه وسلم) خو نه مخکی لیکل کولای شو او نه لو ستل،که ته چیرته وړاندی لیکونکی یا لوستونکی وی نو د باطل پرستو لپاره د دلیل امکانات پیداکیدل او هغه څوك چی باطل پرست نه وی هغه د سلیم عقل له مخی ستا حقانیت پیژنی او د خالق او مخلوق د کلام فرق کولی شی،په یو شرط چی عقل د هغه په دماغو کی ځای نیولی وی او په طبیعت کی ئی حق ته میلان موجود وی.هغه باطل پرست چی د هغو په طبیعت کی جهل وی،د حق لټول،حق معلومول او حق منل د هغوی په طبیعت کی نه وی او داسی خلك د همیشه لپاره د حق په مقابل کی هنگامی او تضادونه منځته راوړی.

الله تعالی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته فرمائی:که ته چیری لوستونکی او لیکونکی وی نو د باطل پرستو لپاره به د شك او شبه یو عذر جوړ شوی وی،تاته پداسی وخت کی وحی راغله چی باطل پرستو ته په لاس کی هیڅ عذر پاتی نه دی.پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته چی جبریل علیه السلام دا ایت راوړ چی«اقرأ» قرئت وکړه! یعنی ولوله! د خپل رب په نوم،هغه رب چی ته ئی پیدا کړی ئی او انسان ئی د وینی له ټوټی څخه پیدا کړی دی.دا د هر انسان په طبیعت کی پرته ده چی زه مخلوق یم او زما عقل او د دنیا واړه کائنات د الله تعالی مخلوق دی او دا ټول

کائنات خالق لري.د دي خبري له
حقانيت څخه نه مشرکان منکر وو او
نه يهود او نصارا.يعني دوی ټولو دا
منلی وه چی د دی ټولو کايناتو خالق
الله تعالی دی. الله تعالی پيغمبر
صلی الله عليه وسلم ته فرمائی چی
که د مکی له مشرکينو او منکرينو
څخه پوښتنه وکړی چی دا ځمکه او
اسمانونه چا پيدا کړی دی؟دوی به
ځواب درکړی چی الله تعالی. که له
دوی څخه پوښتنه وکړی چی ځمکه او
که په ځمکه کی چی څه دی دا د چا
لپاره دی؟ يعنی که تاسو پوهيږئ د
دی مالك څوك دی؟هغوی به ځواب
درکړی چی ددی مالك او خالق الله
تعالی دی.همدارنگه قرآن پاك د دوی
په باره کی فرمائی:چی که له
مشرکانو څخه پوښتنه وکړی چی د اوه
ؤ اسمانونو او عرش عظيم مالك او
ودرونکی څوك دی؟دوی به ځواب
درکړی چی د دی ودرونکی،پالونکی
او تصرف کونکی يوازی الله تعالی
دی.دا مشرکان په دی اعتراف کوی
چی د الله تعالی په لاس کی د هر
شی حکومت دی او په ټولو شيانو
غالب ذات دی او هيڅوك پری غلبه
نشی حاصلولی.دا ډول ځوابونه
مشرکانو نبی کريم صلی الله عليه
وسلم ته د خپل عقل او فطرت له
مخی ورکول يعنی د دوی علم او
فطرت دا منلی وه چی خالق يوازی د
الله تعالی ذات دی.خو اصل خبره
اوس په دی ځای کی ده چی دوی د
خالقيت مسئله منلی وه او د الله
تعالی ذات ته منقاد وو نو څه سبب او
وجه وه چی د پيغمبر صلی الله عليه
وسلم سره ئی جگړه او مخالفت واقع
شو؟د مشرکانو د شرك سبب او د
تضاد او جگړی اصلی علت دا ؤ چی
دوی به ويل! يو سړی تر هغی پوری
يو بادشاه ته ځان نشی رسولی تر څو
پوری چی څه واسطه ونه لري!نو هغه د
ځمکو او اسمانونو مالك او هغه د
عظمت خاوند ته څرنگه يو انسان بی
واسطی رسيدی شی؟دوی د ځانونو او
الله تعالی تر منځ واسطی قايمی کړی
وی،خپل حاجتونه،نيازونه او سوالونه
به ئی د هغو واسطو مخ ته وړل.

دوی به دا ويل!ای الله!ستا سره
شريك نشته،مگر دا شريك چی تا
ورته څه برخه ورکړی ده،دا ستا په
وړاندی نژدی دی او تاورته د ځينو
کارونو واك او اختيار ورکړی دی.د
حج په مراسمو کی به دغو مشرکانو
داسی ويل:لاشريك لك الاشريك ان
تملکه-وماملك. ای الله!ستا شريك
نشته مگر داسی برخه وال شته چی ته
د دغه برخه وال هم مالك ئی.او د دغه
برخه وال د واك او اختيار مالك هم ئی
.يعنی په حقيقت کی دغه برخه وال هم
ستا مخلوق دی او د دغه اختيارات
ستا په لاس کی دی.دغو مشرکينو
دغه برخه وال ځنی
ستوری،ملايك،نيکان بندگان او پيران
گڼل او په دی ئی عقيده وه چی الله
تعالی ځينی اختيارات دوی ته ورکړی
دی.نو دوی ته ئی خپل حاجتونه او
سوالونه وړاندی کول. د دوی د شرك
او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سره
د جگړی او مخالفت اصل سبب
همدغه ډول عقيده وه.

د محمد صلی الله عليه وسلم نه د
وړاندی انبياؤ عليهم السلام د امتونو
د شرك سبب همدا ډول عقيده وه،دی
ډول عقيدی ته شرك ويل کيږی،د الله
تعالی او د ځان تر منځه دغه ډول
واسطی د توحيد او شرك تر منځ د
جگړی اساس او بنيادی وجه ده.

د منکرينو،يهوديانو،نصاراؤ او
مسلمانانو تر منځ چی کوم اتفاقی
عقيده موجوده وه هغه د الله تعالی د
خالقيت مسئله ده.د الله تعالی له
خالقيت څخه انکار په تيرو ټولو
امتونو کی ډيرو لږو خلکو کړی دی
مگر نور ټول امتونه پدی توافق لري
چی د کايناتو خالق الله تعالی دی او
دا ډول مسايل د هميشه لپاره د سليم
عقل او فطرت له مخی پخپله حل
شويدی.د فرعون،نمرود او داسی نورو
چی د ربوبيت دعوی ئی کړی وی
هغوی پخپل عقل او فطرت کی د الله
تعالی ربوبيت منلی ؤ.فوعون په
موسیٰ عليه السلام باندی ځان نانگاره
کوی او ورته وائی:ته چی دا وائی چی
زه د الله رسول يم نو رب د مخلوقاتو
څوك دی؟موسی عليه السلام ورته
وائی:زما رب د ځمکی او اسمانونو او
د دی تر منځ د ټولو کايناتو پيدا
کوونکی دی.خو ته چی په کوم څه
يقين ساتی د ټولونه اولينه مسئله د
رب معرفت او پيژندنه ده.موسی عليه
السلام فوعون ته وائی:زما رب هغه
ذات دی د چا سره چی د مشرق او
مغرب نظام په لاس کی دی.دا ډيره
واضحه مسئله ده،هغه څوك چی دماغ

لرې د دې حجت استدلال ته ضرورت نشته.

د (اقرا......)له ایت نه دا معلومیږي چې د دین ابتدا او پیل له قرئت (لوستلو)نه کیږي.یعنې اول به یو شی لولې او ځان به پرې پوهه کوې او وروسته به پرې عمل کوې.ددې سورت نه چې وروسته کوم سورت نازل شویدی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته الله تعالی فرمائی:ن والقلم ومایسطرون.چې ته وحی هم یاده او هم ئې په قلم کې حفظ کړه!په دریم سورت کې ورته فرمائي:یاایهاالمزمل قم اللیل.ای پیغمبره!ته د الله تعالی د بندګۍ لپاره د شپې پورته شه!د وحی راتګ ددې لپاره دی چې انسان دالله تعالی بندګی وکړي،دا ورته د الله تعالی له لوري حکم ؤ.پیغمبر صلی الله علیه وسلم د وحی له راتګ څخه وړاندې په دعوت او تبلیغ مکلف نه ؤ، کله چې د وحی له راتګ څخه وروسته په دعوت او تبلیغ مکلف او مامور شو،ټول قریش ئې نسب په نسب راجمع کړل.لومړنۍ خبره ئې ورته د قیامت د ورځې د راتګ پیغام ؤ او د دې ورځې د عذاب ویره ئې ورته پیشبینی کړه،خلکو چې هر څه ځواب ورکړې وی خو پیغمبر صلی الله علیه وسلم د خپل مسئولیت په اساس د خلکو په نفوسو کې د قیامت احساس او تصور واچاوه.خلکو ته ئې دا وفرمایل:زمونږ او ستاسو ټول اعمال داسې نه دي چې ترسره شول او تیر شول،ددې هر عمل او فعل تپوس کیدونکی دی او د ذره ذره شی حساب او پوښتنه کیږي،ددې ورځې د احتساب لپاره نن تیاري پکار دی.

ټولو انبیاؤ علیهم السلام د خلکو په نفوسو کې د قیامت د تیاری احساس او تصور ځکه پیدا کاوه چې د قیامت لپاره تیاری او امادګی وکړي ځکه د چاسره چې د یو شی احساس نه وي د هغې لپاره څوك تیاری نه کوي.د دې تیاری لپاره د کتاب او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د لاربنوونی ضرورت دی ځکه د قیامت نه هیڅوك نه دی راغلی چې په دې باب ترې معلومات حاصل شي،دا معلومات د قرآن او سنت نه معلومیږي.

هغه څوك چې د قیامت د راتلو او د قیامت د احوال علم لري هغه الله تعالی او د هغه پیغمبران علیهم السلام دی.اسلام یو داسې دین دی چې په دې کې د هر ډول سلامتیا،سعادت،اخوت،محبت او د دنیا او اخرت د مصالحو او نیکمرغیو تضمین ورکړی شوی دی او ددې نه هغه څوك ګټه او فایده اوچتولی شي چې له دې ځان خبر کړي او دا اومني.دا دین چې چا مکمل منلی نه وي د هغه نفس د دغو خوشبختیو څخه برخورداره کیدی نشي ځکه اسلام د سلامتیا او ایمان د امن په معنا دی، د مسلمان معنی داده څوك چې اسلام ته تسلیم شوی ټوله معاشره او ټولنه د ده له خطراتو څخه په امن کې شوه او ایمان په دې معنی چې دغه ټولنه او د دغې ټولنې د اوسیدو سیمه په امن کې شوه.په اسلام کې چې هر څومره نیکمرغۍ او خوشبختۍ پرتې دي مونږ له دغو څخه هله برخورداره کیدی او په هر ډول ستونزو هله کامیابیدی شو چې مکمل اسلام اومنو.د اسلام سعادتونه یوازې د ملاصاحب په صفتولو نه حاصلیږي بلکې په منلو او قبولولو حاصلیږي.د مثال په ډول که څوك دا ووائی چې شهد(عسل)ډیر خوږ شی دی خو ترڅو چې شهد چا خوړلی نه وي،د شهدو خوږوالی هغه تش په صفت نشي محسوسولی او یا څوك ووائي چې مرغوني ډیر تریخ شی دی خو تر څو چې مرغوني نه وي څکل شوي د مرغوني تریخوالی څوك نشي حس کولی.د اسلام سعادت او خوبی هغه څوك لاس ته راوړی شي چې هغه ته په ده(نفس)کې ایمان حاصل وي او اسلام ته تسلیم وي.هغه قوم چې هغه د ممبر له سر نه د ملاصاحب واعظې اوري او په ځان ئې تعمیل نه کوي،دوی خپله ظاهري ډانچه د اسلام جوړه کړې خو د یو مسلمان وروړ د حرمت،ابرو او عزت څه احساس ورسره نه وي،دغه خلك هیڅکله د اسلام له سعادتونو څخه خوند او مزه نشي حاصلولی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم چې کله د دعوت په دنده مکلف شو خلك ئې راجمع کړل او د قیامت د ورځې د عذاب ویره ئې ورکړه ابولهب ورته په ځواب کې وویل:تا مونږ ایله د دې لپاره راجمع کړو چې مونږ وویروې!دا خبره ورته ډیره په نظر کې وړه او حقیره ښکاره شوه.الله تعالی هغه ابو-

لهب پخپله سزا ورساوه،اسلام ئی ونه مانه او داسلام له سعادت څخه محروم پاتی شو.

ټول خلك باید دا عقیده ولری چی محمد صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین پیغمبر دی،یوه طایفه خلك(قادیانیان)چی ځانونه اسلام ته منسوبوی او وائی چی بل پیغمبر دنیا ته راځی دا خلك د جمهورو علماؤ په فتوه کافر دی،د دوی د کفر وجه د ا ده چی دوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم خاتم الانبیاء نه گڼی.د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه راپدیخوا نه چا ته د پیغمبری عهده حاصله ده او نه حاصلیږی.حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه چی د ټولو نه ئی لومړی ایمان راوړی او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له رحلت څخه وروسته د اسلام لومړنی خلیفه دی،هغه الله تعالی ته د عقیدې د قرب په نسبت په نور امت فضیلت لری،همدارنگه حضرت عمرؓ، حضرت عثمان او حضرت علی رضی الله عنهم چی د اسلام خلفاء دی په امت فضیلت لری،او دا ډول ټول صحابه کرام په تابعینو،تابعین په تبع تابعینو او تبع تابعین په نور امت د عقیدی،مجاهدی،سبقت او پرهیزگاری له امله یو په بل فضیلت لرونکی دی.د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه وروسته خبره په عصمت او حق رسولو کی ده یعنی معنا دا چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم په تبلیغ کی معصوم ؤ،الله تعالی چی ورته څرنگه حکم کړی ؤ په هماغه ډول ئی امت ته رسولی او خطا شوی نه دی،پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمائی«زما دی په الله تعالی قسم وی چی د غضب او رضا په دواړو حالاتو کی زما په ژبه د حق ویلو نه بل څه نشی کیدی»د پیغمبر صلی الله علیه وسلم راپدیخوا ابوبکر صدیق رضی الله عنه چی هغه د دی امت افضل ترینه هستی ده هغه هم کله کله خطا شوی دی.همدارنگه ټول صحابه کرام او د دین فقهاء کله کله په مسایلو کی خطا کیدل.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم دمجتهد عالم په هکله فرمائی:چی عالم د حق لټون وکړی او حق ته ورسیږی دده لپاره دوه اجرونه دی،که د حق لټون ئی وکړ او حق ورته معلوم نه شو هم د ده لپاره یو اجر دی.له صحابه کرامو څخه نیولی تر دی وخته پوری هر څوك چی د حق لټون کوی که خطا شو د الله تعالی په وړاندی معذور دی.نور امت به په هغه رحم کوی.څرنگه چی عیسایانو حضرت عیسی علیه السلام ته د الوهیت مقام ورکړ،هغوی په دی خبره کافر شول،پدی باب له چی محمد صلی الله علیه وسلم د عیسی علیه السلام د بندگۍ ویل وکړل او وئی ویل چی عیسی علیه السلام د الله تعالی بنده او رسول دی، عیسایانو په دی باب له دا انگازی خوری کړی چی محمد صلی الله علیه وسلم او د ده ملگری عیسی علیه السلام ته کنځا کوی.

محمد صلی الله علیه وسلم عیسی علیه السلام ته خو کنځا نه وه کړی یوازی دومره ئی ویل چی دا د الله بنده دی،د الله رسول دی او د الله تعالی سره برخه وال نه دی او(نعوذبالله)د الله ځوی نه دی.

عیسایانو ته دا ډول حق خبری کول کنځا معلومیده.په پاکستان کی چی کله د شیخ القرآن مولانامحمد طاهر روزل شوی شاگردان راخواره شول هری سیمی ته ئی دا خبره ورسوله چی اولیاء رحمه الله نیکان بندگان دی خو د دوی سره د خیر او شر قدرت نشته او دوی د خیر او شر مالکان نه دی،د همدغه عیسایانو په ډول دوی دا اوازی خوری کړی چی پنجپیریان اولیاؤ ته کنځا کوی،دوی خو کنځا نه کوله مگر دغو ناپوهو خلکو ته دغه د حق خبری کنځاوی معلومیدی.نن مونږ وایو چی امام شافعی،امام ابوحنیفه،امام مالك او امام احمد رحمهم الله دا پیغمبران نه بلکی د دین مجتهدین او د امت امامان دی،دوی پیغمبران نه دی چی نه خطا کیږی په ځینو خبرو کی دوی خطا کیږی هر چاته چی خطائی معلومه شوه دا د هغه فریضه ده چی خطائی پریږدی او حق واخلی نه دا چی ضد ټینگ کړی ،حق پریږدی او د امام قول ته په حق ترجیح ورکړی،همدغه ډول په مونږ پسی نن ویل کیږی چی دوی امامانو ته کنځاوی کوی،خو مونږ په ځواب کی دغو خلکو ته چی په مونږ پسی دغه ډول پروپاگنډې کوی وایو ایا محمد صلی الله علیه وسلم او یا د هغه ملگرو عیسی علیه السلام ته کنځاوی کړی وی؟ایا پنجپیریانو اولیاؤ ته کنځاوی کړی وی؟هغوی

کنځا نه بلکی حق ویناوی کولی،ضدیان او مخالفین همیشه حق ته کنځا وائی.د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه راپدیخوا د صحابی،امام، مجتهد او عالم کی خطا او رسا دواړه موجودی دی،که خطا چا ته معلومه شوه هغه به پریږدئ او رسا به اخلئ، د مسلمانۍ فرض دادی چی د خطا په مقابل کی به دا نه وائی چی دا خطا شوی دی، الله دی پری لعنت وکړی بلکی دا به وائی چی الله دی پری رحم وکړی. په مونږ پسی خلك دا وائی چی دوی مذهب نه منی،مونږ په ځواب کی وایو چی مونږ یو مذهب نه بلکی څلور واړه مذهبونه منو.د دی څلور واړو مذهبونو امامان د دین امامان دی، زمونږ سره د څلور واړو تر منځ هیڅ د توپیر تصور موجود نه دی،زمونږ سره به تفاوت هله پیدا کیږی چی کله د څلورو واړو امامانو اقوال په یوه مسئله کی راغلل د کوم یو قول چی قرآن او سنت ته نژدی ؤ مونږ به هغه قرآن او سنت ته نژدی قول اخلو،نور زمونږ سره د دوی تر منځ د هیڅ ډول توپیر فکر نشته او ټولو ته د یرحمهم الله دعا وایو،که چا د کوم امام سره خصوصی تعلق قایم کړی وی مونږ د هغه سره جګړه نه کوو.څلور واړه امامان دا وائی چی زمونږ تقلید مه کوئ!که اوس څوك دا وائی چی زه د فلانی امام تقلید کوم په حقیقت کی دغه شخص د هغه له مذهب څخه بهر دی ځکه هغه وائی چی زما تقلید مه کوئ او دی ئی برعکس کوی، خو څوك چی داسی کوی چی د امام د قول په رڼا کی قران او سنت ځانته معلوموی دغه شخص د امام په مذهب برابر دی،مذهبی هغه چاته ویل کیږی چی د امام قول منی.هغه څوك چی وائی چی تقلید کول ضروری نه دی،د مثال په ډول که څوك ړوند وی نو د بینا په اوږه به د تللو لپاره لاس ږدی،هغه ته هیڅوك دا نه شی ویلی چی تاولی د بینا په اوږه لاس ایښی دی؟د داسی شخص سره څوك هم جګړه نه شی کولی ځکه هغه معذوره دی،مګر که څوك بیناوی هغه ته هیڅوك دا نه شی ویلی چی ته ولی سترګی نه پټوی او ولی د بل په اوږه لاس نه ږدی؟دا ځکه چی دا ډیره نامعقوله خبره ده.ددی نه ځینی خلکو څه بل ډول تحریك امیز انعکاسات راوویستل او ډول ډول تبلیغات،افترأت او الزامات ئی منځته راوړل او دا پروپاګنډې شروع شوی چی دلته یو ډول خلك پیدا شوی چی د "میری مور سره نکاح جایزه ګڼی او داسی نور"،خو زمونږ موقف لکه د لمر ښکاره او روښانه دی.دا ډول مسایل هله مناظره او حل کیږی چی د دواړه جانبینو سره د حق د منلو رحجان او میلان په نفسونو کی پروت وی نو که یو جانب یا یو سړی په طبیعت کی جاهل وی او د حق د منلو رحجان او میلان ئی په طبیعت کی نه وی هغه په کتاب او حجت څرنګه څوك ملامت او پړ کولی شی؟پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته نصارا د یوی مناظری لپاره راغلل نو له ډیرو دلایلو او حجت بازۍ وروستنۍ فیصله داسی وشوه چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم نصاراؤ ته وفرمایل:چی راځئ مونږ به هم خپل ماشومان او زنانه میدان ته وباسو او تاسی هم.په ګډه به سوال وکړو چی الله!که په مونږ کی څوك دروغجن او باطل پرست وی ته ئی تباه کړی!نو نصارا او یهود له میدان نه وتښتیدل.همدارنګه نن هم زمونږ سره ځنی وروڼه دغه رنګه سلوك کوی،که د دوی سره په نفس کی زمونږ په باب کوم شبهات او شکوك موجود وی،زمونږ د مفاهمت دروازی هر وخت د دوی پر مخ خلاصی دی،دوی کولی شی چی زمونږ سره له نژدی نه ووینی که زمونږ نه کومه خطا شوی وی هغوی ئی مونږ ته په ګوته کولی شی دا د مسلمانۍ طریقه ده او مونږ ئی منواخو دا چی زمونږ سره له نژدی نه نه ګوری او یو ځای او بل ځای تبلیغات کوی دا د فتنی د راپیداکولو معنی لری.زمونږ اخری فیصله هم د دا ډول خلکو چی شر او فتنی ته لمن وهی دا ده چی راځئ مباهله وکړو،مګر دی ته تر اوسه هیڅوك حاضر نه شو.زمونږ په نظر مونږ ته ټول علماءکرام محترم دی ځکه ددی علماؤ برکت دی چی دا دین تردی وخته پوری رارسیدلی او محفوظ دی او دا علماء د دین پاسداران دی.

پای

قدرت د اسلام د خدمت لپاره وسیله ده نه چوکۍ ته د رسیدو لار

د افغانستان د اسلامي اتحاد امیر او اسلامي دولت د عالي شوري غړي پروفیسور عبدالرب رسول سیاف څه موده وړاندې د شهید د اوونۍ په ویاړ د کورنیو چارو د وزارت په تالار کې خپله عالمانه وینا واوروله چې مونږ یې بشپړ متن خپروو:

درنو ورونو! ددې ښکلي او شانداره محفل په څپو کې غواړم چې خپلې خبرې دحضرت عمر رضي الله عنه په یوه لنډه وینا سره پیل کړم چې هغه د اسلام په تاریخ کې د عدل او انصاف ستر ځای او د شهیدانو دقافلې یو سالار بلل کیږي. کله چې شام فتح شو، مجاهدین ورننوتل د مسلمانانو تسلط په هغه ځمکه باندې قایم شو، حضرت عمر رضي الله عنه خپله د شام خواته وروخوځیده او کله چې هلته ورسیده؛ نو قوماندانان او مجاهدین ئې راټول کړل او ټولو ته ئې په جګ غږ اعلان وکړ او ورته ئې وویل:

قوماندانانو! ای مجاهدینو! دا عزت خداي د اسلام په واسطه تاسوته در په برخه کړیدی او کله چې عزت په غیر د اسلام کې ولټوئ نو بیرته به مو خداي ذلیل کړي. دا جمله ډیره پر محتوی جمله ده. دغه خلك چې د حضرت عمر رضي الله عنه پر مخ کې ولاړ ؤ ، له خپلي فتحي او کامیابۍ څخه ئی لذت احساساوه او پرې ویاړیدل.

څو کاله پخوا له دي شام ته د مزدورانو په حیث ورتلل، دتجارت په نامه به تلل هلته به یې څه لږ او ډیره سودا واخیسته او بیرته به خپلو کورونو ته راستنیدل، مسافر به وو میلمانه به وو، د یوه دوکان په مخ کې به په سیوری کې پراته وو او د بل دکان په مخ کې به هلته چیرته ناست وو، خلکو د مزدورانو په سترګه ورته کتل،همدا خلك وو په اشخاصو کې ئی کوم بدلون نه ؤ راغلی،په وجود کې ئی کوم بدلون نه ؤ راغلی، په مادي قوت او توان پدې خلکو کې کوم بدلون نه وو راغلی ، شام ته نن زمامداران دي، حاکمان دي، فاتحین دي، ددوی هر یو سره دا سوال باید پیدا شوی وای چې زه پرون دلته مزدورۍ پسې راتلم، بې نوم او بې نشانه سړی وم څه سودا به مې وکړه او بیرته به جزیزة العرب ته (خپلې خاوری خواته) روان وم نن ئی څنګه توره هسکه په ولی (اوږه) نیولې ده او د شام په کوڅو کې ښکته او پورته ګرزم او د عزت،د غیرت او شهامت وړانګې مې د سترګو او د توری نه پر کیږي.دا سوال د هر یوه په ذهن کې موجود ؤ. پرون مزدور وم نن باداریم،پرون دلته میلمه وم،مسافر وم

نن حاکم او زمامداریم. ددی ټولو
سوالونو ځواب حضرت عمر رضي الله
عنه په یوه مختصره جمله کی ورکړ
چي: انما أعزكم الله بالإسلام- په دی
کی هیڅ شك نشته چي تاسو ته دا
عزت خداي داسلام په نتیجه کی در
کړی.

«فهما ابتغيتم العزة في غيره»
کله هم چي عزت په غیر د اسلام کی
ولټوئ حتماً به ذلیل کیږئ. دا اوس
چی تاسو دلته په صفت د زمامدارانو
دکابل راټول شوی یاستئ. دا اوس چی
ستاسو په لاس کی دلته حکومت دی،
خلك د فاتحینو په سترګه درته ګوری،
دا د اسلام له برکته ده. له رئیس
دولت نه نیولی تر آخر سر د دی
مجاهد پوری بی نوم او بی نشانه
خلك وو له اقتصادی لحاظه بالکل په
ټیټه مستوا ددی جامعي کی واقع وو
په داسی محافلو کی مونږ ته چا لاره
او ځای نه را کاوه، محکوم او مظلوم
او محروم ژوند مو درلود، د غلامی
سری او توری حلقي مو په غاړو کی
پرتی وی. دا د اسلام برکت دی دا د
اسلامي تربیي برکت دی او دا د
اسلامي نهضت او اسلامي تحریك
برکت دی چي نن ورځ د پرون مزدوران
د پرون ګم نام او بی نشانه خلك دلته
د قدرت په څوکی ناست دی او په
دی ملك کی د خدای په نامه
حکمروائی کوی خو لکه څرنګه چی
حضرت عمر رضي الله عنه ویلی ؤ که
چیری هم مونږ نه دا خبره له ذهن څخه
ورکه شوه چي مونږ د اسلام دي ځای
ته رارسولی یو او زمونږ نه دعزت
اصلي لاره ورکه شوه، نو تاسو پوه
شئ چی العیاذ باالله بیرته به غلامان
یو بیرته به محکومان یو او بیرته به
مظلوم او محکوم خلك ددی ملك او
ددي جامعي یو.

هغه کسان چی د مجاهد د توری
په برکت قانع نه دی هغه کسان چي د
اسلام په عظمت قانع نه دی او اوس
هم په دی فکر کی دی چی په اسلام
کی نه بلکی عزت په بل شی کی
وغواړو او عزت د بلی دروازي نه
کمائی کړو دا هغه کسان دی چی پردی
ولس د عزت پیرزوینه نه لری پر دی
ولس د عظمت پیرزوینه نه لری او په
دی ولس د مستقل آزاد شان او
شوکت پیرزوینه نلری. الله جل عظمته
په خپل پاك کتاب کی فرمایي:
«أیبتغون عندهم العزة فإن العزة لله
جمیعاً» آیا دا خلك د پردیو ترڅنګه
عزت لټوی؟ آیا دا خلك په پردیو
دروازو کی عزت لټوي؟ په پردیو
فرهنګونو، ثقافتونو او قوانینو کی
عزت لټوی؟ دوی باید پوه شی چی
عزت یوازی د خداي تر څنګه دی
«فان العزة لله جمیعاً» عظمت،
شوکت، پت او عزت میړانه او غیرت
یوازی د اسلام په څپو کی پیدا کیږی
بل چیرته نه شی پیدا کیدای.

ورونو! دا محفل چی د جوزا په
نهمه په دغه خاصه ورځ کي دائر
شویدي دا ورځ د دي ملت او ټولني
په تاریخ کی یو شاندار موقعیت لری،
شاید ورونو پخوا له ما دا مناسبت
تشریح کړی وی؛ خو زما ژوند له دغو
مناسبتونو سره او ددی مناسبتونو
ژوندی حالت سره یو ځای روان راغلی
دی کله چی تره کی اقتدار ته ورسید
او داؤد ئی نسکور کړ، په دوهمه هفته
د اسلامي تحریك کوم بچیان چی په
دهمزنګ کي بندیان وو دوي د شپی په
یوه بجه په موټرو کی واچول او د
دهمزنګ څخه ئی مخ په پل چرخي
روان کړل.. په هر موټر کی دري تنه
مسلح کسان ګوتی یي د کلاشنکوف
په ماشه ایښی په مخ کی سیټ کی
سپاره دری تنه شاته او دا بندیان په
منځ کي ناست وو، مونږ ته یی وویل
چی خپلې بستری له ځان سره نشی
پورته کولای نور سامان او لوازم که
لرئ همدلته یی کیږدئ. ټول لوازم مو
د محبس د امریت په مخکی کیښودل
د شپی یوه بجه وه چي وئ خوځولو،
نو اکثره ورونو دا فکر کاوه چی له
همدی ځایه به مو پلچرخی ته
(کشتارګاه خواته) بیایی. کله چي

موټر له حربي پوهنتون څخه تیر شو هغه دو راهي ته نژدی شو چی یوه لاره یې ښي لاس ته د پلچرخي محبس خواته تللي او بله لاره په چپ لاس کشتارگاه خواته تللی ده. د اعدام ځای ته چی موټر نژدی کیده په سروس کی د تسبیح او د تکبیر غږونه ورو ورو پورته کیدل. او زه متوجه وم دي وروڼو ته مې کتل هر یوه فکر کاوه چی اوس به موټر چپه خواته روان شي ، یو وخت دوراهي ته فقط ۲۰-۲۵ متره پاتې وو چي گورم د ټولو وروڼو دواړه سترگی دوراهي خواته ور گرځولي وی چي اوس به موټر کومې خواته ستنیږي.

چی کله سروسونه ښي لاس ته راتاؤ شول (پلچرخي خواته) نو هلته وروڼو یو بل خواته وکتل او بیرته یو نوع ارتیاح او اطمینان وروڼو ته پیدا شو کله چي پلچرخي ته ورسیدو، د شپې دری بجي وی هلته ئی کوز کړو په سبا د داؤد له کورنيږ او د هغه له کابینې سره مخامخ شو هغه کسان چی مونږ یې د اسلام په گناه نیولی وو اسلام ته د خدمت په تور باندی یې نیولي وو، او ددی ملك دعزت، پت او ابرو مندیه د غوبښتنی په گناه ئی نیولي وو، له هغو خلکو سره مخامخ شوو. هغوی یو واری ورمنډه کړه د محبس مدیر ته یې وویل چی زمونږ دښمنان مو زمونږ تر څنگه راوستل، مونږ وژني نو دلته د محبس مدیر مونږه له ځان سره یو بل بلاك ته بوتلو چی د خطرناك بلاك په نامه یادیده چی هلته د هر یوه لپاره تنها تنها کوټه وه، مونږ ته یې وویل چي تاسو یو بل ځای ته بیایو چی هغه سیاسی بلاك دی او د سیاسی بندیانو له پاره مناسبتر دي. هلته ئی په هر یوه پسي یوه یوه پنجره وتړله، دودیه ئی را باندی بنده کړه اوداسه ته ئی پری نه ښودو او چی ورته مو وویل چی پریږده دي دهلیز کی به په جمع لمونځ وکړو نو مدیر وویل دا کار ممنوع دي.

ممنوع دی (مدیر) دلته یوه ملگری یو آه وایست (وي ویل) خدایه ته رحم وکړی! بل ورور پری غږ وکړ آه مه باسئ! دریم ورور له بلی کوټی نه غږ وکړ : اي وروڼو دا د صبر مقام نه دی دا د شکنجي مقام دی. خدای ته شکر ادا کړئ!

جگړن ضیاء الدین پیلوټ د غزني د سالیزو دي الله غرق رحمت کا؛ده غږ وکړ: ځکه دا مقام د صبر دي چي په ملیونهاؤ خلك اوس په کابل کی آزاد گرزی په دی کافر پردی مزدور نظام باندی راضي دی او قانع دي شکر د خدای په ځای کړئ چی د خدای اختیار او انتخاب په تاسو باندی شوی چی په طاغوتي حکم باندی قانع نه اوسئ اود الله په لار کی او د الله ددین په لار کی دلته په زندان کی پراته یاست.

دا یو نعمت دی او ددی پیروزینه خدای په تاسو کړیده؛ نو خدای ته شکر گذار شئ! په سبا ئی مونږ ته د بیرون ته راوتلو اجازه راکړه، په دهلیز کی مو د جماعت لمونځ کاوه د محبس مدیر سید عبدالله نومیده او راغي په منډه یې هر یو تیل واهه چي بیرته ننوزئ اجازه نشته.

زما کوټه قبلی خواته او د شهید سیف الدین نصرتیار کوټه زما تر اړخه وه وروڼو ته ئی غږ وکړ چی په هر دهلیز کی چی د چا کوټه قبلی خواته ده هغه دی مخکی شی امامت ته؛دا نور خلك دی تر شاپسی اقتدا وکړی کله به مو چی تکبیر وویلو قراءت به مو شروع کړو د محبس مدیر به راغي گیټ به ئی وواهه د توپك میل به ئی سرته ونیو د دی له پاره چی لمونځ مختل شی خو د الله شان ؤدهیچا په زړه ویره او دار نه گرزیده بیائی غږ وکړ چی اذانونه بند دی،سبا چی د آذان وخت شو.

نصرت یار غږ وکړ چی آذان وکړو که نه؟ ما ورته‌وویل جگ شه اذان وکړه!توکل خدای ته چی اذان وکړه؛ صاحب منصب ور پسي راغي دا اذان

چا وکړ؟ ما کړی دی. (نصرتیار) را ووزه! (صاحب منصب) بوئی تلو، نیم ساعت به تیر وو چی بیرته ئی راوست پوښتنه می وکړه، څه ئی در سره وکړل؟ په خندا ئی وویل: بوی تلم یو دری تشنابونه یی نوی جوړ کړی وو کانکریټ ئی لوند و په یوه تشناب کی ئی ننویستم کوټه ئی را پسی کلکه کړه او کلی ورواچوله چي دروازه راپسی قلف کړی،چی هر څه ئی وکړل دروازه را پسی قلف نه شوه. بیرون یی را وویستم بیا به ئی دروازی ته کلی ورواچوله دروازه به قلف شوه چی بیا به ئی بیرته ورننویستم چی بیا به ئی هر څه وکړل، دروازه به نه قلف کیده. وائی دریمی کوټی ته ئی بوتلم عین ډرامه هلته تکرار شوه، دریمی کوټي ته ئی بوتلم چی هر څه کوشش ئی وکړ،دا یوه کوټه هم راپسی قلف نه شوه له کوټی نه ئی را وویستم بیرته ئی راروان کړم وویل صاحب منصب څه وویل دا حالت ئی ولید؟ وبی ویل: په لاره کی را سره روان ؤ یو وار ئی اسمان خواته مخ ونیوه آه ئی وکړ بل څه ئی ونه ویل بل ځل بیا راغي او لاسونه ئی را باندی تاؤ کړل او قرآن شریفونه ئی را څخه ټول کړل چی نور دغه کتاب دلته له ځان سره نه شی ساتلای. څو ورځی وروسته ئی د تره کی عکس راوړ او دهلیز مخي سره ئی کیښود او وی ویل: تر څو پوری د افغانستان پلار ته سجده ونکړئ له دی ځایه څخه به ونه وزئ.دا د سید عبدالله غز ؤ.خو دا د زمرو بچیان وو دا د اسلام په غیز کی لوی شوی وو دوی د ککرو سودا گران وو دوی ته دا مسله مهمه نه وه،تاسو باور په خداي وکړئ ډیر تکړه تکړه خلك وو، د دي عکس مخي سره به چي تیریدل یو واری به ئی ځان ورته کوږ کړ خو د دي اسلامي تحریك بچیان به چی راورسیدل نو مخ به ئی ترینه تاؤ کړ، د یو زمری په غرور کي.چی هر څو ئی کوښښ وکړ چی جزی ترینه انعطاف په دی خلکو کي ووینی خو دا آرمان ئی گور ته یوړ. قطعاً انعطاف نه وو. دغه چی دا مدیر د محبس به د دهلیز په مخ کی گرزیده او تمانچه به ئی په ورانه ځوړنده وه او نیشه به تیر شو زمونږ ورونو د هغه د لیدو بر داشت نه درلوده.زمونږ دوه ملگري وو یو شاه ابدال نومیده د پنجشیر ؤ، په څلور پنځوسم کال کی هغه د پنجشیر په جنگ کی نیول شوی وو. بل نادر نومیده د بدخشان ؤ،دغه دواړو پولس ځله ماته راغلل راته ئی وویل چی استاذه د خدای په لحاظ مونږ ته اجازه راکړه چی دا مدیر د محبس یو واری کش کړو! څه کوئ ځوانانو! دا ځای د کشولو نه دي زمونږ او ستاسو پښی تړلی دی!ولی څه شوي دی؟ وی ویل: دغه چی دا تمانچه ئی ځوړنده او دلته زمونږ د کوټو په مخ کي نیشه تیریزی ددی برداشت مونږ نه شو کولائی پولس ځله به راغلی وی چی اجازه راکړه چي یو واری په دهلیز کی کش کړو خو ما به ورته ویل چی نه دا کار مکوئ!ددی په خاطر چی په دي باندی کومه گټه مرتبه نده. دقندهار ملا صاحب خداي دی غرق رحمت کړی! اذان کاوه پنجری پوری ئی وتاړه لاسونه ئی وروتړل، خوله ئي وروتړله چی اذان ونشي کولای چی بیرته ئی را خلاص کړ ما ویل د قندهار ملا صاحب څه تصور درته پیدا شو چی وبي تړلي او خوله ئی درته په ټوټه وتړله؟ وبی ویل: چی خپل خدای ته مي عرض وکړ چی خدایه! اوس خو اذان زما به وس کی نه دی، تر دغی لحظي له دین سره دریدلی یم غږ مي نه پورته کیږی که دا لته په خولی باندی نه وای چی توره می په خولی باندي ایښی وی بیا هم ستا په نام باندی غږ پورته کړی وای!بالآخره په کومه شپه چی ددی ورونو په باب د اعدام فیصله کیږی د دنیا د ټولو اصولو او موازینو پر خلاف د ټولو قوانینو پر خلاف هیڅ نوع رژیم په یو ملك کی دا حق نلری چی د تیر رژیم سیاسي بندیان محاکمه کړی یا یی اعدام کړی، ځکه سیاسی بندی معنی د قایم او برحاله نظام چی مخالف هغه نظام تاسو رنگ کړ دهغه مخالفین مو باید خوشي کړی وای. لاکن که داؤد او تره کی هر څومره خپل منځ کي سره مخالف وو، خو د دوی سنگر د اسلام په خلاف کی یو سنگر وو. «الکفر ملة واحدة» ددوی دښمنی له اسلام سره یوه دښمنی وه دجوزا له اتم څخه تر نهم پوری د شپی

له مخي د دی ورونو د اعدام حکم راورسید او وژل ېی ويستل او دلته چی دوی پوه شول اوس خو مونږ اعدام ته بیایی د اول بلاك په حویلۍ کي ئی پنځه دیرش کسه تری نه راکوز کړه دلته یوه ورور د تکبیر ناره پورته کړی وه اوله صاحب منصب څخه یی په زور کلاشنکوف واخیست.

خو چی کله ئی گیټ وهلی وُ څلاد خداي له دښمنانو سره خپله معامله تر سره کړی جاغور خالی وُ نو ئی له وسه ونه شول؛ نو هلته چی څوك ولاړ وو دغه پنځه تنه ئی چی ننویستلی وو په دی پنځو تنو یي ماشینیه وچلوله.

ددی ماشینی چلولو سره په سروسونو کی تکبیر شروع شو. او دیرش تنه نور نوتل یوي کوټی ته جنگ شروع شو د شپی پولس بجی وی او په دی بلاك کي د مختلفو ډلو بندیان ناست دی مسلمانان شته شعلیان شته، پرچمیان شته، افغان ملتیان شته، ستمیان شته، هره ډله ناسته ده، د مسلمانانو او اسلامي تحریك د ریښتنی بچیانو تر منځ چی تش لاسونه ولاړ دی او د دښمن دهشکواوذیکویك او ټانکونو تر منځ معرکه شروع شوه په برجونو کی چار میله دهشکی نصب دی دا ئی په دی سرویسونو باندی راکوزی کړی یو تعداد ورونه په دی سرویسونو کی کفته شول، غوښنی یی د څوکیو سره وکندل شوی له سرویسونو څخه د تکبیر ناری پورته کیدی په دی وخت کی دوه سپین ږیری چی د ننگرهار وو یو ئی د شهید ادم خان د ننگرهار مشهور قوماندان پلار او یو یی تره وُ دوی له یو تعداد نفرو سره له موږو څخه ځانونه واچول ډبری ئی راخیستی وی.

مخ په دهشکو او زیگویکو ئی منډه اخیستی وه، ټانکونه ئی په ډبرو ویشتل او دی سپین ږیرو غږ وکړ د خبیب رضي الله عنه قصه یي ټولو ته ور په یاد کړه دا غږ اکثرو بندیانو او ریدلي وو. او په یو نظم کي ئی غږ کړی وو د سحر باده زمونږ سلامونه د مدینی سردار ته ورسوه دا هغه وخت دی چی د دوی ورروستۍ سلګۍ دي حضرت خبیب رضي الله عنه چی کله دمکی د خلکو له خوا ونیول شو د مکی اکثر قبایلو مشران یي هم راوغوښتل چی دده په قتل کی اشتراك وکړی، دوه رکعته لمونځ ئی وکړ، خدای ته ئی سوال وکړ. خدایه! زه چی شاو خواته گورم پرته ددښمن له مخ څخه د دوست مخ نه وینم یو سوال درته لرم خدایه چی زما سلام خپل حبیب ته ورسوه او ورته ووایه چی خبیب د خپل ژوند په وروستیو شیبو کی خپل سلام درته وړاندی کوی.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم په مدینه کی ناست وو او اصحابو ته یی مخ وراړوه او وویل: چي د خبیب وروستۍ شیبی دی او خپل سلام یی رالیږلی دی خداي جبریل علیه السلام ته أمر وکړ چي ورشه د خبیب سلام ورسوه! په هغه وخت کی د دي خلکو ستره هیله دا وه چی خدای د دوی سلام د مدینی سردار ته ورسوی. دا خلك چي په سرویسونو کی شهیدان شول.

معامله راغله همغه خلکو ته چی په کوټو کی بندیان دی دومره شهامت پدی خلکو کی نه وُ چی د کلاشنکوفونو سره په کوټه ور ننوځی یو وار به یی دروازه خلاصه کړه، ماشینه یی داسي پر و چلاوله دري څلور به یی ولگیدل. بیا به دوی دا بل کنج ته شول چی کوم یو به پکي ولگید پخوا له دی چی په څمکه ولویږی دا د مرمۍ په سوری کی به یی گوته ننیستله او په دیوال به یی نوشته کړه چی فلاني شهید! دا نورو به ورته ویل چی شهادت دی مبارك شه!او د تکبیر ناری روانی وی.د سهار تر څلور بجو پوری له دی کنجه فیر وکړو له هغه کنجه فیر وکړه.آخر پنځه کسان ژوندی پاتی وو په دی وخت کی یو ساتنمن راغي او وئي ویل! چی زه به دا معامله ختمه کړم.

کابل - د هیواد ورځپاڼې په مننه!

د حسين رضي الله عنه شهادت

د ابو وليد ليکنه

د حضرت عمرفاروق او حضرت عثمان رضی الله عنهم له شهادت وروسته په اسلامی تاریخ کی د ټولو لویه او زړه دردونکی واقعه د حضرت امام حسین رضی الله عنه د شهادت عظیمه واقعه وه چی په دینی،سیاسی او اجتماعی لحاظ ئی په اسلامی تاریخ زیات اثر وغورزاوه.

حضرت امیر معاویه رضی الله عنه پخپل ژوند خپل ځوی یزید خپل ولی عهد وټاکه.پدغه وخت کی خلکو د حضرت معاویه پدی اقدام سخت مخالفت وکړ،لیکن معاویه خلك خاموشه کړل او بغاوت ئی دفعه کړ.

امیر معاویه رضی الله عنه د خپل وفات نه اګاهو یزید ته وصیت کړی ؤ چی ستا مقابلی ته به دری تنه ودریږی، یوعبدالله بن عمررضی الله عنه، دویم عبدالله بن زبیر رضی الله عنه او دریم به حسین بن علی رضی الله عنه وی.

عبد الله بن عمر د لمانځه او روژی نه فرصت نه شی موندلی نو ځکه له هغه نه زیات د نقصان اندیښنه مه کوه.

حسین بن علی (رضی الله عنه)د حضور صلی الله علیه وسلم لمسی دی او د دغه رشتی په وجه به ئی زیات خیالساتی.

عبدالله بن زبیر که بیعت وکړ نو د هغه خلاف به هیڅ قسم غلط قدم نه پورته کوی اوکه بیعت ئی درسره ونکړ نو بیا ئی خاطر مه کوه او که د جنګ ضرورت شو نو جنګ ورسره وکړه.

کله چی امیر معاویه وفات شو او یزید بن معاویه خلیفه شو نو له حضرت حسین بن علی نه ئی د بیعت کولو غوښتنه وکړه.

علی بن ابی طالب رضی الله عنه د خپل خلافت په دور کی کوفه خپل مرکز ټاکلی ؤاو په دغه وجی په کوفه کی د اهل بیتو تعداد زیات ؤ.

بل خوا د کوفی اوسیدونکو حضرت حسین رضی الله عنه ته خطونه لیږل چی ته کوفی ته تشریف راوړه،موږ ستا هر ډول امداد ته تیار یو.

حضرت حسین رضی الله عنه د دوی د زیات اسرار په وجه خپل د تره ځوی مسلم بن عقیل کوفی ته واستولو تر څو د کوفی د خلکو نظر له نژدی څخه معلوم کړی او پخپله ئی هم کوفی ته د تللو اراده وکړه،پدغه وخت

کی ورته عبدالله بن عباس رضی الله عنه وفرمائیل چی کوفی ته د تللو اراده بدله کړه ځکه د کوفی اوسیدونکی ستا په حق کی مخلص نه دی.حسین رضی الله عنه ځواب ورکړ:زه پوهیږم چی ته زما خیرخواه ئی خو اوس می د تللو اراده کړی او باید یو ځل کوفی ته لاړشم.

همدارنگه حسین رضی الله عنه د کوفی په لور رهی شو د «صفاج» نومی ځای سره د هغه ملاقات د مشهور شاعر «فرزق» سره وشو.حسین رضی الله عنه له هغه نه د کوفی د اوسیدونکو په باره کی معلومات وغوښتل.هغه ورته وویل: د کوفی د اوسیدونکو زړونه ستا سره دی لیکن توری د بنی امیه ؤ سره دی.

حسین رضی الله عنه ورته ځواب ورکړ چی بلکل همداسی ده،خو اوس می د تللو اراده کړی او څه چی د الله له طرفه مقرر وی هغه به رارسی.

«زرود» سیمی ته چی ورسید خبر ورله راغی چی مسلم بن عقیل د والی عبیدالله بن زیاد له خوا شهید کړی شو او د کوفی خلکو پری هیڅ ننگ ونکړ.د دی خبر سره حسین رضی الله عنه (انالله وانااليه راجعون)وویل او دا ئی مناسبه وگڼله چی له همدی ځایه واپس مکی ته ستون شی.

مگر د مسلم بن عقیل خپل خپلوان رااوچت شول او د حسین رضی الله عنه د واپسی مخالفت ئی وکړاو وئی ویل تر هغه به نه واپس کیږو تر څو مو د «مسلم»بدل نه وی اخستی.

حسین رضی الله عنه د قادسیی سره نژدی د حر بن یزید چی یو زر پوځ ورسره ؤ مخامخ شو او حسین رضی الله عنه ته ئی وویل:ماته د والی عبیدالله بن زیاد له خوا امر شوی چی حسین دی ما ته حاضر کړی شی.

حسین ځواب ورکړ:داسی نشی کیدای،زه ستا سره تللو ته حاضر نه یم.

حربن یزید ورته وویل چی داسی نه شی کولی نو بیا داسی وکړه چی نه به کوفی ته ځی او نه مدینی ته .

حسین رضی الله عنه د هغه د غه مشوره اومنله او د کربلا په لور روان شو او د محرم په دویمه نیټه کال ۶۱هجری د کربلا میدان ته ورسید.

په دویمه ورځ عمرو بن سعید عبیدالله بن ابی وقاص د څلور زره پوځ سره د کربلا په میدان کی د حسین رضی الله عنه د مقابلی لپاره راورسید.

عمروبن سعید د بن زیاد له خوا په زور د حسین د مقابلی لپاره راستول شوی ؤ،ځکه عمروبن سعید نه غوښتل چی د حسین سره د زور نه کار واخلی،بلکه مسئله ئی د روغی جوړی له لاری حل کول غوښتل.

عمروبن سعید د حسین رضی الله عنه سره ملاقات وکړ او پوښتنه ئی تری وکړه چی څنگه راغلی ئی؟

حسین رضی الله عنه ځواب ورکړ:زه پخپله نه یم راغلی بلکه زه د کوفی اوسیدونکو رابللی یم.

اوس که د کوفی اوسیدونکی زما پاتی کیدل دلته نه غواړی،زه واپس تلو ته حاضر یم.

عمروبن سعید دغه موضوع ابن زیاد ته د لیك په ذریعه واستوله،ابن زیاد چی د عمروبن سعید لیك ولوست نو ډیر زیات متاثره شو،خو شمرذی الجوشن ئی مخالفت وکړ او وئی ویل:

اوس حسین زمونږ په قبضه کی دی که چیری هغه مونږ پریږدو، زمونږ له پاره به مصیبت جوړ کړی.

حسین رضی الله عنه چی د واپسی کوم دری شرطونه وړاندی کړی ووهغه دا وو:

*** ما هغه ځای ته پریږدئ چی لاړ شم له کومه ځایه چی راغلی یم .**

*** زه به د یزید سره پخپله**

مخامخ خبرې کوم.

* اويا ماد مسلمانانو کوم سرحد ته ورسوئ.

ابن زياد د حسين رضی الله عنه دغه شرطونه هم قبول نه کړل او هغه ته ئی وويل: چی ته اول د يزيد سره بيعت وکړه، وروسته به بيا گورو.

ابن زياد عمروبن سعيد ته هدايت ورکړ، که حسين رضی الله عنه بيعت کولو ته حاضر شو خو ډيره ښه او که انکار ئی وکړ نو جنگ ورسره وکړه.دغه خط شمر پخپله وليکه او پخپله ئی عمروبن سعيد ته ورساؤ.

ابن زياد شمر ته دا هدايت هم ورکړ، عمروبن سعيد ته ووايه چی ته به پدی خط ضرور عمل کوی او که انکار دی وکړ نو تا به قتل کړم او که زما حکم دی په ځای کړ نو د انعام او اکرام مستحق به هم شی.

د محرم په لسمه د سهار د لمانځه وروسته عمروبن سعيد خپل پوځ ته د مخکی تللو هدايت ورکړ او حسين رضی الله عنه هم د خپلو اصحابو صفونه برابر او منظم کړل.

پدغه وخت کی د حسين رضی الله عنه سره صرف (۳۲) سواره او (٤٠) پياده چی ټول (۷۲)کسان جوړيدل ملگري وو.

د دواړو ډلو تر منځ سخت جنگ شروع شو،د حسين رضی الله عنه ټول ملگري يو په بل پسی شهيدان کيدل،

په آخر کی حسين رضی الله عنه پداسی حال کی د جنگ ميدان ته راووت چی کوچنی ماشوم بچی ئی په غيږ کی ؤ او دغو ظالمانو د هغه لحاظ هم ونه کړ او د غشی په گذار ئی ماشوم د حسين په غولی کی شهيد کړ.

حسين رضی الله عنه د جنگ ميدان ته رامخکی شو او ډير زيات کسان ئی مردار کړل او بلآخره د شهادت اعلی درجه ئی نصيب شوه.

له شهادت وروسته ئی د حسين رضی الله عنه سر له تنه جدا کړ او د ابن زياد مخی ته ئی راوړ.ابن زياد د حسين رضی الله عنه مبارک غاښونه د نيزی په څوکه ووهل.

يو صحابی«زيد بن ارقم» په دغه مجلس کی موجود ؤ، ابن زياد ئی د دغه کار نه منع کړ او ورته ئی وويل: ای زياده! په هوش شه!دا څه کوی؟

ما رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پخپله ليدلی چی د حسين خوله به ئی ښکلوله او دا شونډی رسول الله صلی الله عليه وسلم څو ځل ښکل کړی دی.

بيا په چغو او سورو له مجلسه بهر شو او خلکو ته ئی وويل:

ای د کوفی اوسيدونکو!له نن نه وروسته تاسو غلامان شوئ،تاسو ابن فاطمه شهيد کړ.په تاسو دی لعنت وی چی تاسو د شرير ابن زياد غلامی قبوله کړه.

بيا ئی د حسين رضی الله عنه سر يزيد له دمشق ته ورساؤ.

يزيد چی د حسين رضی الله عنه سر وليد نو په ژړا شو او وئی وويل:لعنت دی وی په ابن زياد،والله که زه هلته موجود وی نو حسين(رضی الله عنه) به می صحيح سلامت رخصت کړی وی.

غوره وينا وي

اى هغو کسانو چى ايمان مو راوړى دى!

مدد غواړئ له الله څخه په صبر او لمانځه سره،بيشکه چى الله له صبر کوونکو سره دى.(سورة البقره-١٥٣)

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي:

*د يو مسلمان چې له بل مسلمان سره غم شريکي نه وي،هغه زما له امت څخه نه دى.

*له شرک نه وروسته لويه گناه د الله تعالى مخلوق ته ضرر رسول دي.

*کله چې دوه ورونه له يو بل سره روغبړ کوي،اويا(٧٠)رحمتونه پرې تقسيميږي،د يوکم اويا(٦٩)رحمتونو مستحق به په دوي کي هغه يو وي د کوم په زړه کي چي زيات اخلاص او صداقت وي.

*د چا تيوس کول او بيا د هغه سره غم شريکي نه کول د نفاق دليل دى.

*په الله تعالي اود قيامت د ورځي ايمان لرونکو ته ووايه! چې د خپل گاونډي عزت او تکريم کوئ.

حضرت ابوبکر صديق(رضي الله عنه) فرمائيلي:

*عبادت يوه پيشه ده،دوکان ئي خلوت دي،مال ئي تقوى ده او نفع(گټه) ئي جنت دى.

*څوک چي په ژړا نه پوهيږي، هغه به په ژړيدونکي څه رحم وکړي.

*که غواړي چي د ښه ژوند خاوند شي نو خپله ژبه له گيلو نه وساته.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه فرمائي:

مسلمان سره دا نه ښائي چي په کوټ کي کښيني او په دعاګانو له الله تعالي نه رزق وغواړي،چي يا الله!ما له رزق راکړه!ځکه د آسمانونو نه سپين او سره زر نه راوريږي.

د «تعزیه» تاریخي او شرعي حیثیت

دعبدالغفار په قلم

تعزیه له تعزیت نه اخستل شوی کلمه ده او لغوی معنی ئی د غم او خفگان په وخت کی مصیبت رسیدونکی ته د صبر او تسلی ورکولو ته ویل کیږی،ځکه د چا مرگ د هغه د ورثاؤ لپاره د زیات غم او خفگان باعث وی، لهذا هغی ته تسلیت ورکول او له هغوی سره همدردی کول یوه انسانی او اسلامی فریضه گڼل کیږی.

په شرعی لحاظ پکار دا ده چی د چا د مرگ نه وروسته د هغه ورثاؤ ته داسی تعزیت ورکړی شی چی په هغی کی چغی،نعری سوری، کالی اوگریوان شلول نه وی او نه پکی د ویختانو شوکولو او مخ وهلو لپاره اجتماع جوړول جایز ده.

ویل کیږی په کال ۳۴۱ هجری کی یو قوم د تناسخ قائل ؤ،په دی قوم کی یو ځوان دعوه وکړه چی د حضرت علی رضی الله عنه مبارک روح د ده وجود ته ننوتی دی اوښځی (میرمنی) ئی دعوه وکړه چی د حضرت فاطمی رضی الله عنها روح د دې وجود ته ننوتی دی او یو بل تن دعوه وکړه چی زه پخپله جبریل یم.

کله چی دا خبره د وخت خلیفه ته ورسیدله نو دری واړه ئی ونیول او د قانونی سزا ورکولو حکم ئی ورکړ،نو دوی د مکر او چل نه کار واخیست او ځانونه ئی د اهل بیت سره منسوب کړل،تر څو په دغه نوم ځانونه له سزا نه بچ کړی.

معزالدوله «شیعه» د وخت حاکم ته د دوی په هکله زیات سفارش وکړ او د هغه په سفارش نه یوازې دا چی هغوی له سزا نه بچ شول بلکی د هغه په سفارش دوی په اوچتو عهدو هم فایز شول.

د معزالدوله د دغه شرارت په باب امام سیوطی داسی فرمائی:«هذامن افعاله الملعونة ....الخ» یعنی دا کار د هغه د لعنتی کارونو څخه دی.

د دغه کتاب په ۲۷۸مخ کی علامه فرمائیلی چی په کال ۳۵۲هجری کی معزالدوله په خلکو جبراً لازمه کړه چی د عاشوری په ورځ دی ټول دوکانونه،بازارونه او دفاتر بند کړای شی،اخستل او پلورل به نه کیږی او نه به خوراکی څیزونه پخیږی.معزالدوله په لکړو کی ټوتی او څادری وتړلی او هغه ئی په بازارونو کی نصب کړی،ښځو او نرو به خپل مخونه وهل،مرثیئی به ئی لوستلی او په کوڅو او بازارونو کی به گرځیدل.دغه بدعت د لمړی ځل له پاره د بغداد په بازارونو کی اداء کړی شو چی تر ننه پوری جاری دی،بلکی نن د عروج حد ته رسیدلی دی.د علامه له دی وینا څخه معلومه شوه چی د تعزیه دغه رسم د معزالدوله«شعیه»په حکم جوړ او د هغه په حکم د ماتم او ژړا بنیاد

کېښودی شو.

وروسته د هغه ځوی بختيار د خپل پلار په ګدۍ کيناست او د شعيه مذهب په تاريخ کی ئی يو اهم رول اداء کړ.د بختيار لقب هم معزالدوله ؤ او په همدغه لقب مشهور هم شو.

سيد امير علی پخپل کتاب«سپرټ اف اسلام »کی ليکلی چی معزالدوله د جناب حسين رضی الله عنه په ياد کی د يوم عاشور د ورځی ماتم اعلان کړ.(سپرټ اف اسلام ص ٤٦١)

علامه ابن خلدون په خپل کتاب کی ليکلی:معزالدوله هغه سړی دی چی په لومړی ځل ئی په بغداد کی د خپل حکومت په زور عشره محرم ډير په شان او شوکت ولمانځله.يعنی د تعزيه رسم ئی اداء کړاو د تبری اضافه ئی پکی وکړه.(د تاريخ ابن خلدون ج٣ص٣٢٥په حواله).

ليکن د تعزئی د رسم د اداء کولو په نيټه کی لږ ډير اختلاف شته، د مثال په توګه د علامه سيوطی د وينا مطابق د دی رسم شروع په کال ٣٥٢ هجری کی وشوه او د کامل ابن اثير په دوهم جلد کی ليکل شوی چی معزالدوله د عاشوری د ورځی د لمانځلو حکم په ٣٥٠هجری کال د محرم په مياشت کی جاری کړ،خو دا خبره حقيقت لری چی د تعزئی حکم ورکونکی او بنياد ايښودونکی معزالدوله دی.پدی توګه مولوی اعجاز حسين «شعيئی» هم په خپل کتاب «تاريخ الخلفا » کی دا ويلی دی

چی معزالدوله د اماميه مذهب لومړنی بادشاه دی چی د عاشوری په ورځ ئی بازارونه بند او نانبايان ئی د ډوډی په نه پخولو مجبور کړل او ښځو خپل ويښته شوکول او د حسين رضی الله عنه ماتم ئی کولو او د ذ ی الحجی په ١٨نيټه ئی د عذير اختر ولمانځه.

د پورتنيو دلائيلو نه دا معلومه او ثابته شوه چی د دغه بدعت بنياد ايښودونکی معزالدوله ؤ او که د معزالدوله ځوی او جعفر بن فلاح ته هم د دی بدعت بنياد ايښودونکی ويلی شی نو بی ځايه به نه وی او په خاصه توګه د معزالدوله ځوی خو د شيعه مذهب اماميه ډير زيات ترويج کړيدی.

په «هديه مجيديه تحفه اثنا عشريه» په ترجمه کی راغلی چی مختار بن عبيد شعيه د تابوت سکينه په نوم د جناب امير د چوکۍ پرستش شروع کړ حال دا چی دغه چوکۍ د جناب امير نه بلکی طفيل بن جعده د يو غوړو خرڅونکی دوکاندار نه راوړی وه (د هديه مجيديه صفحه ٤٢په حواله).

علامه عبدالکريم شهرستانی په خپل کتاب «الملل والنحل»صفحه ٨٤ کی د دغه چوکۍ په هکله ليکلی:دغه چوکی يوه زړه چوکۍ وه چی په هغی باندی مختار د ريښمينو يو ښايسته غلاف وګنډلو او دا ئی خلکو ته اوښودله چی دا د حضرت علی کرم الله وجهه په کوټه کی وه او چی کله به

ئی له دښمن سره د جګړی اراده وکړه نو دغه چوکۍ به ئی په لومړی صف کی کېښوده او ورته به ئی ويل :مخکی شه او قتل کړه.فتح او نصرت ستا سره دی.دا تابوت سکينه ستاسو په منځ کی د بنی اسرائيلو د تابوت په شير دی، په دی کی فرښتی د م لپاره نازليږی.نوله دی نه دا معلومه شوه چی په حقيقت کی د تعزيه ابتدا له همدی ځايه شروع شوی وه.

هندوستان کی د تعزيه ابتدا:

په هندوستان کی د تعزيئی په باره کی ويل کيږی چی د تيمور د سلطنت په دور کی د بادشاه اکثره وزيران او د هغوی ښځی(ميرمنی)شعيه مذهبی وی،په هندوستان کی د زياتو جګړو او بدامنۍ له وجی هغوی کربلا ته تللی نه شو نو دغه مشکل او موضوع ئی د بادشاه حضور ته وړاندی کړه،نو تيمور د حسين رضی الله عنه د روضی نقل تيار کړ او د هندوستان ټولو شعيه مذهبو ته ئی حکم وکړ چی د امام حسين(رضی الله عنه) زيارت دی کوی او ثواب دی حاصلوی.همداسی وشوه،ټول شعيه مذهبی به همدی زيارت ته راتلل او دغه نقلی زيارت په ډير لږ وخت کی ډير شهرت اموند چی تر ننه پوری موجود دی.

مولوی خيرات احمد«وکيل شعيه» په خپل کتاب«نورايمان» کی د«اعمال محرم» په عنوان د ٣٣٢صفحی نه تر ٣٨٢صفحی پوری مفصل بحث کړی.هغه د تعزيه غرض

او مقصد هم بیان کړی،هغه لیکلی دی چی تعزیه د امام حسین د روضی نقل دی او د دی مقصد دا دی چی د امام حسین رضی الله عنه د قتل ناوړه داغ د همیشه لپاره لری شی.

د مولوی صاحب دغه خبره بلکل په ځای ده.

د دسهره(رام لیلا) او د تعزیه په منځ کی مماثلت:

رام لیلی د هندوانو یو مذهبی رسم دی،که چا د هندوانو دغه رسم لیدلی وی نو دا حقیقت به ورته څرگند شی چی د دسهره،رام لیلی او تعزیه تر منځ څه خاص توپیر نشته.د مثال په دول رام لیلی کی لس ورځی دی نو په تعزیه کی هم لس ورځی دی او په دواړو کی د یو جنگ ذکر کیږی،هندوان ورته رام رام وائی او اهل تشیع ورته یاحسین یاحسین آوازونه کوی.نو دا به بی ځایه نه وی چی تعزیه د رام لیلی یو نقل دی.

دا وه د تعزیی یوه مختصر شان تاریخچه چی د مختار او معزالدوله له خوا ئی ابتدا شوی وه او د هغوی په دور کی ورله ترقی ورکړی شوه او وروسته اهل تشیوع ورته مذهبی رنگ ورکړ او اوس په عشره محرم کی د شیعه ؤ کورونه ورسانه دی.

د تعزیی غیر شرعی اړخونه:

اوس مونږ د لسم محرم د تعزیی په غیر شرعی اړخونو بحث کول غواړو.په ابتدا کی خلك د تعزیه سره نژدی دیر په ادب سره ودریږی،سلام او سجود کوی او د امام حسین په نامه د شربتونو ابدانونه چی ورته «سبیل»ویل کیږی خلکو ته مفت ورکړل کیږی، نذرانی ورکوی، مرثیئی او نوحی وائی، حلوا گانی پخوی او د ډوډی،ننگری ئی باندی کړی وی.چی په حقیقت کی دا ټول مشرکانه رسمونه او رواجونه دی.

د مرثیو او نوحو په باب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی

نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم من المراثی.(ابن ماجه)یعنی رسول الله صلی الله علیه وسلم د مرثیی ویلو نه منع فرمائلی ده او د نوحی په باره کی ئی فرمائلی دی.

ترجمه: دوه خبری په مسلمان کی د کفر دی،یو په نسب کی طعن کول او بل په مړی باندی نوحه لوستل.(مسلم)

همدارنگه په دغه باب نوراحادیث هم شته چی د ماتم او نوحی حرمت پکی ثابت دی او پدی حرمت د ټولو ائمه ؤ اتفاق دی او دغه دول رسمونه نه یواځی شرعاً او عقلاً حرام گرځول شوی بلکی د امام حسین رضی الله عنه د وصیت نه سیراً سرغړونه ده،ځکه حسین رضی الله عنه د خپل شهادت نه لږه شیبه اگاهو داهل بیتو خیمو ته تشریف یوړو او هغوی ته ئی وفرمایل:که چیری زه د دشمن سره په جگړه کی شهید شوم نو تاسو نه د خپلو خیمو نه رابهر شئ او نه ویرونه وکړئ او نه خپل سترونه مات کړئ.

همدغه ډول په دی وروستیو وختو کی د ایران مذهبی مشر او د هغه هیواد جمهور ریس علامه علی خامنه ای هم په دغه بدعت کی د اصلاح یوه فتوی صادر کړی ده او په هغی کی ئی ویلی دی: «د محرم د ماتم په دوران کی د ځان وهل او له ځانه وینی بیول یو جاهلانه فعل دی او شعیه گان باید دنیا ځان ته په دغه ناوړه فعل متوجه نکړی.(نوایٔ وقت لاهور- جون، ۲۹ -۱۹۹٤). نو د دی نه دا معلومه شوه چی تعزیه څنو شعیه ملایانو د خپلو شخصی منافعو لپاره جوړه کړی او بیائی په دین کی شامله کړه.

د تعجب خبره خو دا ده چی دوی هم پخپله تعزیه جوړوی او بیائی خپل مشکل کشا هم گڼی،هغی ته سجدی او طوافونه کوی او دعاگانی تری غواړی.

الله تعالی په دغه باب فرمائی:

اَتَعبُدُونَ مَاتَنْحِتُون وَاللهُ خَلَقَكُو وَمَاتَعمَلُونَ(صافات٩٤-٩٥)

ترجمه:تاسو د هغه څیز عبادت مه کوئ کوم چی تاسو پخپله جوړوی،حال دا چی الله تعالی تاسو او ستاسو اعمال پیدا کړی دی.

د عبادت لائق یواځی الله تعالی دی چی د ټولو کائناتو خالق او مالك دی،نه دا چی تعزیه جوړه کړی شی او بیا ئی عبادت وشی.ځکه کفارو ته پدی وجه مشرکین ویل کیږی چی د گټو نه پخپل لاس صورتونه جوړوی او بیائی عبادت کوی.

الله تعالی دی ټول اسلامی امت د توحید په سپیڅلی عقیده سمبال کړی او دغه ډول خرافات دی د ټولو مسلمانانو له زړونو او ذهنونو نه لری کړی.

د عاشورى د ورځې فضيلت

ليك: نجمه پروين هاشمي، ژباړن: کچلوال

د محرم مياشت چې د هجرى قمرى کال لومړى مياشت ده د حرمت د مياشتو له جملې څخه شميرل کيږي او ددې مياشتې حرمت د قران کريم له دې نص څخه ثابت شوي چې:

«إن عدة الشهور عند الله اثنا عشر شهراً في كتاب الله يوم خلق السموات والأرض منها أربعة حرم» (سورة برأة - ۳۶)

ترجمه: بې له شکه د حرمت د مياشتو شمير د ځمکې او اسمانونو د پيدايښت له ورځې څخه د الهي ليکنې له مخې دولس دی چې په دې کې د حرمت مياشتې څلور دي.

ددې مجمل آيت تفسير په يو حديث شريف کې چې د حضرت ابو-بکر صديق رضي الله عنه څخه روايت شوي دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې فرمايلي: بې له شکه زمان گردش کوی او بيرته خپلې نقشې ته راځي له هغې ورځې نه چې الله تعالى ځمکه او اسمانونه پيدا کړي. کال دولس مياشتې لري، له دې جملې څخه څلور مياشتې د حرمت مياشتې دي چې پکې درې مياشتې پر له پسې يعنې ذى القعده، ذي الحجة او محرم دي او څلورمه د رجب مياشت ده کومه چې د جمادى الثاني او شعبان په منځ کې راغلې ده. (بخارى کتاب التفسير ۲-۶۷۲).

د حرمت په مياشتو کې له هر دول بدۍ او فسق او فجور کارونو څخه دده کول پکار دي او همدا رنگه د نورو مياشتو په پرتله ددې مياشتو احترام او لحاظ ساتل لازمي دي. دغه څلور مياشتې چې له برکتونو او فضيلتونو څخه ډکې دي موږ ترې دلته د موضوع په اړوند يوازې د محرم د مياشتې يادونه کوو.

محرم هغه مياشت ده کومه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د روژې لپاره مقرره کړې وه او دا مياشت يې د بديو او گناهونو لپاره کفاره گرځولې وه.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: له رمضان څخه پرته په ټولو روژو کې افضله او غوره روژه محرم ده کومه چې د الله تعالى مياشت ده.

او له فرض لمونځ څخه پرته افضل او غوره لمونځ دتهجد لمونځ دی. (مسلم كتاب الصيام باب فضل المحرم ۱-۲۶۸) د دې حديث شريف څخه د محرم دمياشتې د روژو فضيلت ثابت شوي دی. همدا رنگه د محرم د مياشتې د روژو په باب د نبي کريم صلى الله عليه وسلم بې شميره احاديث موجود دي.

څرنگه چې د مسلم شريف په «باب استحباب صيام ثلاثة ايام من كل شهر و صوم يوم عرفة و عاشوره و والإثنين والخميس» کې د ابو قتاده رضي الله عنه څخه يو اوږد حديث شريف بيان شوی دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم

وفرمایل: د عاشورې په ورځې روژه نیول دیو کال گناهونو کفاره ده.

د حضرت عایشې رضی الله عنها له قوله د نقل شوی حدیث څخه داسی معلومیږی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم په مکی دور کی هم د عاشوری روژی نیولی، حضرت عایشه رضي الله عنها فرمایی چی قریش خلك به د جاهلیت په زمانه کی په دی ورځ روژه وو، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینی ته تشریف راوړ، هغه هم د عاشوری روژی نیولی او خلکو ته یی هم ددی روژو د نیولو حکم ورکړ، مگر کله چی د رمضان روژه فرض شوه نورسول الله صلی الله علیه وسلم د عاشوری روژه پریښوده او ویی وفرمایل: اوس هر څوك اختیار لری که له توانه یی پوره وي دعاشوری روژه دی ونیسی او که نه! نو نه دی نیسي. (بخاري مع الفتح ٤-٢٤٤)

په قریشو کی د عاشوری د ورځی د روژی د نیولو څو وجوهات موجود وو او هغه دا چی قریشو داسی گمان کاوه چی د عاشوری روژه دسابقه شریعت څخه را پاتی ده یعنی دا یو پخوانی حکم دی او بله وجه دا وه چې قریشو به د عاشوری د ورځی تعظیم ددی لپاره کاوه چی په دی ورځ په کعبه سریف غلاف خور شوی دی. یو قول دا هم نقل شوی دی چی قریشو به د جاهلیت په زمانه کی گناه وکړه، ډیر زیات به خفه شول نو دوي ته به وویل شول چی د عاشوری روژه ونیسی! ستاسی د گناهونو تلافي په روژی سره کیږی. او دا هم ویل کیږی چی نبي کریم صلی الله علیه وسلم مدینی ته د راتلو نه وروسته هم روژی نیولی او ددی خبری ثبوت د حضرت عباس رضي الله عنه له دی روایت څخه چې امام بخاري رحمه الله په خپل صحیح کی داسی بیان کړی: کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې ته تشریف راوړ، هغه ولیدل چی یهود د عاشوری په ورځ روژه وی، رسول الله صلی الله علیه وسلم له یهودیانو څخه پوښتنه وکړه چی دا ستاسی څنگه روژه ده؟ یهودیانو ورته په ځواب کی وویل: دا هغه عمده ورځ ده چی الله تعالی بنی اسرایلو ته پری له خپل دښمن (فرعون) څخه نجات ورکړ او حضرت موسی علیه السلام په دی ورځ د شکراني روژه ونیوله. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: مونږ ستاسو نه د موسی علیه السلام د خوشحالۍ په شرکت کی ستاسو نه زیات حق لرونو رسول الله صلی الله علیه وسلم (په دی خوشحالۍ کی د گډون په نیت) روژه ونیوله او خلکو ته یی د روژی د نیولو حکم ورکړ (بخاری مع الفتح ٤-٢٤٤). له دغو لاندینیو احادیثو څخه هم دعاشوری د روژی اهمیت او فضیلت ثابتیږی چی نبي کریم صلی الله علیه وسلم به پری مداومت کاوه.

د حضرت ابو موسی الأشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چی یهودیانو به د عاشوری ورځ د اختر گڼله نو رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ته وفرمایل: تاسو هم په دی ورځ روژه ونیسئ! (بخاری مع الفتح ٤-٢٤٤).

دحضرت ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دي: ما رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی لیدلی چی د کومي خاص ورځې د روژی اهتمام یی کړی وی او دغه ورځ یی له نورو ورځو څخه غوره گڼلې وی مگر د دی ورځې یعنی عاشوره او ددی میاشتی یعنی رمضان (بخاری مع الفتح ٤-٢٤٠).

د حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم د عاشوری د روژی

حکم فرمایلی دي او په دی یی د ترغیب او خیال ساتلو تاکید فرمایلی دی مگر کله چی د رمضان روژه فرض شوه نو نه یی ددی روژی د نیولو حکم و فرمایلو او نه یی ترینه د منعي په باب څه وفرمایل او نه یی زمونږ لپاره ددی څه خیال وساته. (مسلم کتاب الصیام باب فضل یوم عاشوره ١-٣٥٨).

ددی حدیث شریف نه داسی معلومیږی چی د رمضان د روژی د فرض کیدلو وروسته دعاشوری د روژی تاکید له منځه تللی دي، هر څوك کولی شي چی دا روژه یا ونیسی او یا یی ترك کړی ،مگر هغه څوك چی د عاشوری روژه نیسی د اجر او ثواب مستحق گرځي.

په یو بل حدیث شریف کی د محرم د میاشتي د نهم تاریخ په باب خوږ نبي کریم صلی الله علیه وسلم داسی ارشاد فرمایلي: حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما وایی کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دعاشوری روژه نیوله او خلکو ته یی ددی روژي د نیولو حکم کاوه، خلکو عرض وکړ ای د الله رسوله! دا داسی ورځ ده چی یهود او نصارا یی ډیر تعظیم کوی!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چی راتلونکی کال ته به انشاء الله د محرم په نهم تاریخ روژه نیسو، مگر رسول الله صلی الله علیه وسلم د راتلونکی کال تر دغی ورځی پوری پاتي نه شو او وفات شو.(مسلم١-٣٥٩).

داکثره علماء کرامو دا رایه ده چی دمحرم دنهمی او لسمی ورځی دواړه روژی مستحب دی ځکه چي رسول الله صلی الله علیه وسلم د محرم په لسم روژه نیولی ده او د نهمی ورځی د روژی د نیولو نیت یی کړی ؤ، د محرم د نهم تاریخ د روژی د تعین اصل مقصد دا ؤ چي د محرم لسمه د یهودو د روژی سره مشابه وه.

د محرم په میاشت کی پرته له روژی د بل کوم خاص عمل څه ثبوت وجود نه لری کوم خرافاتي او غیر مشروع اعمال چی نن سبا یی ځینی خلك (شیعه فرقه) د شریعت په نوم تر سره کوی دا له شریعت څخه بیخی لری او له شریعت سره هیڅ ډول تعلق نه لری.

حضرت ابو موسی اشعري رضي الله عنه فرمایی چی د خیبر خلکو د عاشوری په ورځ یو خاص ډول عادت خپل کړی ؤ، چی په دی ورځ به یی روژه نیوله او دی ورځی ته یی د اختر د ورځی غوندی نظر کاوه، ښځی به یی په نوو جامو او زیوراتو سنگارولی کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم له دی خبری څخه خبر شو ویی فرمایل: تاسی په دی ورځ صرف روژه ونیسئ! (مسلم ١-٣٥٩).

د عاشوری د ورځي روژه‌ډیرلوی فضیلت لری، ددی ورځی روژه دیو کال گناهونو کفاره کیدی شی مگر یوه جاهله طبقه خلك چی په دی ثابت شوی عمل قناعت نه کوی بلکی ددی ورځی په باره کی بي شمیره موضوع گانی او مهمل حدیثونه د خلکو دبی لاری کولو لپاره استعمالوی.

دا د محرم دلسم تاریخ په باب یو لړ احادیث وو چی د دی ورځی د فضیلت څرگندونه تری کیږی مگر د خوږ نبی صلی الله علیه وسلم دلمسی حضرت حسین رضي الله عنه مرگ چی د ٦١هـ کال د محرم په لسم دکربلا په مقام په ډیره بی دردی‌شهید کړی شو دا یوه اتفاقي پیښه وه، هغه خلك چی دا ورځ د ماتم په نوم لمانځي دا یو غیر مشروع عمل دی.

د مخابراتو وزارت په مرکز او ولایاتو کی د سټلایټ پنځه سټنډرډ دستګاوی نصبوی

(انجنیر محمد عاصم)

د افغانستان د اسلامي دولت د مخابراتو وزارت په دې وروستیو وختو کې د مخابراتو چارو د سمون په غرض په کابل، هرات، کندز، قندهار او مزار شریف کې د سټلایټ دستګاوو د لګولو په مقصد د امریکا د (ترایګو- انټرنیشنل) کمپنۍ سره قرار داد لاس لیک کړی دی. د مجلې خبریال په دې ارتباط په کابل کې د مخابراتو د وزارت د سرپرست انجنیر محمد عاصم سره مرکه کړې چې په لاندې متن سره وړاندې کیږي.

پوښتنه: په تیرو دری کالو جنګونو کی د مخابراتو د وزارت تاسیساتو ته څومره زیان رسیدلي دی او د بیا جوړونې د پاره ئې څه اقدامات په نظر کی دی؟

ځواب: هماغسې چې د تیرو دری کالو جنګونو د کابل ښار په سلو کی شپیته وران کړی دی په دې لړ کی د مخابراتو وزارت تاسیساتو ته هم زیان رسیدلی دی چې بیا جوړول ئې په موجوده وخت کي د اسلامي دولت له توان څخه پوره نه دی او په دې برخه کی بهرنیو پراخه مرستو ته ضرورت دی. په تیره بیا د شمشاد نړیواله مخابروی دستګاه چې د نړۍ سره ئې کابل نښلولی ؤ بیخی ړنګه شوی ده او د ترمیم امکانات ئې نه لیدل کیږي. خو اوس ددې دستګاه په عوض د المان له خوا یو اته کاناله یو طرفه د سټلایټ دستګاه د افغانستان او المان لخوا په شریکه په کار اچول شوی ده چې اوسنیو غوښتنو ته ځواب نشی ویلی که څه هم ځینی هیوادونو په افغانستان کی د مخابراتو د وزارت سره د بیا جوړونې وعدې کړي دی خو یوه ئې هم تر اوسه نه ده عملي شوی.

پوښتنه: ویلی کیږي چې د مخابراتو وزارت د نړیوالې مخابرې د تامین د پاره په نوو اقداماتو لاس پورې کړی دی په دې باره کی څه توضیحات لرئ؟

ځواب: هوکی دا سمه ده چې په دې وروستیو وختو کی د امریکا د ترایګو انټرنیشنل کمپنی یو هیئت بې له دینه چې د مرکزی حکومت سره رابطه وکړی په هرات کی ئې د جنرال اسماعیل خان سره خبری پیل کړی وی خو د مخابراتو د وزارت د مداخلې په لړ کی د نوموړی کمپنی سره د مرکزی حکومت په سطحه یو قرارداد لاسلیك شو، ددی قرارداد له مخې دغه کمپنی حاضره شوه چې د مخابراتو د وزارت سره په شریکه د سټلایټ یوه دستګاه

په کابل، هرات، قندهار، کندوز او مزار شریف کی نصب کړی چی ټاکل شوی ده په دوهمه مرحله کی همدغسي یوه دستگاه د ننگرهار په ولایت کی هم ولگول شی چی په دی توگه به د ټولو گاونډیو ولایتونو ټلیفوني داخلی او نړیوالی مخابری تامین شي.

پوښتنه: د سټلایټ دغه بین‌المللی دستگاوی د کومو شرایطو لاندی په افغانستان کی نصبول کیږی او د مخابراتو ونډه به په کی څومره وی؟

ځواب: د سټلایټ دغه دستگاوی چی د ټلیفون په شمول به ورنه د ټلکس، فاکس او ټلویزونی او راډیوئی خپرونی واخستلی شی او د نړی د زیاتو هیوادونو سره به مخابروی رابطه ټینگه شی یو شرکت دی چی د (افغان ټیلی فون کمپنی) A.T.C په نوم سره یادیږی چی په سلو کی یو پنځوس به ئی د افغانستان او په سلو کي ٤٩ فیصده لگښتونه به ئی د امریکا کمپنی له خوا تادیه کیږی. ددی شرکت لمړنی پانگه څلور میلونه ډالره کیږی او د دستگاه ټول تخنیکی اکمالات به د ترایگو انترنیشنل کمپنی په غاړه وی.

پوښتنه: د سټلایټ دغه نړیواله دستگاوی به څه وخت نصب شی او په لومړی مرحله کی ورته څومره بودجه پکار ده؟

ځواب: د مخابراتو وزارت خپل یو پنځوس فیصده سهم به په څو مرحلو کی نوموړی کمپنی ته سپاری چی په لومړی سر کی موافقه شوی ده په سلو کی پنځه ویشت فیصده ټاکلی سهم تادیه کړو چی کله بار چالاني شروع کیږی او د دستگاه وسایل کابل ته ر سیږی او نصبولو ته چمتو کیږی په هغه وخت کي د خپل ټول سهم یو پنځوس فیصده په ورکولو مکلف یو او د یو شریک بورډ له مخی به د دستگاه ټول امکانات گټه او تاوان محاسبه کولی شی. چی ټاکل شوی ده په راتلونکی نژدی وخت کی ئی د لگولو او استفادی چاری سرته ورسیږی.

پوښتنه: ددی نړیوالی مخابروی دستگاه نه څه ډول استفاده کیدی شی او په اقتصادی لحاظ ئی څنگه څیړئ؟

ځواب: دا یوه ستنډرډ دستگاه ده چی په نړیوال ټلیفون بر سیره فاکس، ویډوی او تلویزیونی پروگرامونه هم تری اخستل کیږی او ټرانزیټ کیدی شی.

یا دا چی کومو بین المللی پروگرامونو ته چی مونږ ضرورت لرو کولای شو هغه نیغ په نیغه ددی دستگاه نه واخلو او د خپل تلویزون چینل ته ئی ورکړو.

په سملاسی توگه د افغانستان د پاره دوه کاناله فعالوو چی په تدریج سره به شپږو کانالو ته ورسیږی چی د ملگرو ملتو په طرح کی همدغسي پیش بینی شوی دی.

په بین الولایتی توگه به هم ددی دستگاه له لاری فعالیت ولری یعنی ولایتونو به هم وکولی شی د ضرورت په وخت کي خپلی بین المللی مخابری په اساني سره تامین کړی.

څکه نو فیصله شوی ده چی یوه ستنډرډ A په کابل او څلور ستنډرډ B دستگاوی به غټو غټو ولایتو کی نصب شي چی ددغه ولایتونو د لاری گاونډی ولایتونه هم کولی شی خپل مخابروی سملاسی ضرورتونه پوره کړی.

#

د صحابه ؤ (رضي الله عنهم) ژوند ته یوه لنډه کتنه

د محمدشيرين «اسد» ژباړه

حضرت ثمامه بن اثال (رضي الله عنه)

په کال شپږم هجري کې کله چې اسلامي دعوت په ټوله نړۍ کې مخ په خوریدو شو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اراده و فرمائیله چې د عربو او عجمو بادشاهانو ته د لیکونو او پیغامونو په ذریعه د اسلام قبولولو دعوت ورکړي.

هغه اتۀ بادشاهانو ته چې حضورصلی الله علیه وسلم لیکونه استولي وو په هغو کې یو هم ثمامه بن اثال رضی الله عنه ؤ.

ثمامه بن اثال د جاهلیت د زمانې یو بارعبه بادشاه او د بنو حنیفه د قبیلې یو قابل قدر سردار ؤ.د جاهلیت په دور کې چې ثمامه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغام ورسید نو د هغه مبارك لیك ته ئی ډیر د حقارت په سترګه وکتل او د ډیر قهر نه ئی سترګې ړندې او غوزونه کانه شول او د حضور صلی الله علیه وسلم د قتل ناوړه اراده ئی وکړه،تر څو پخپل نزد دغه دعوت د همیش لپاره ختم کړي او د خپلې دغه منصوبې د کامیابیدو لپاره د یوې مناسبې موقعې په انتظار ؤ.

یو ځل ثمامه ته دا موقع برابره شوه چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې د شا له اړخه حمله وکړي، په دغه وخت کې د ثمامه تره هغه له دغه کارنه منع کړ او د الله تعالی په فضل رسول الله صلی الله علیه وسلم د دښمن له شره په امان شو.

ثمامه خو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قتل اراده له زړه نه لرې کړه خو صحابه ؤ ته د نقصان او زیان رسولو اراده ئی هم هغه شان په زړه کې وه .

یو ځل ئی څنې صحابه محاصره کړل او ټول ئی په بې دردۍ سره شهیدان کړل،کله چې دغه خبر حضور صلی الله علیه وسلم ته ورسید نو عام اعلان ئی وکړ چې د هر چا لاس چې په ثمامه باندې بر شو نو قتل دې کړي .د دغه زړه دردونکې واقعې نه څو ورځې وروسته ثمامه اراده وکړه چې د بیت الله د زیارت لپاره مکې ته لاړ شي،ځکه د هغه له ډیرې مودې څخه دا آرزو وه چې په بیت الله کې د بتانو په نوم قرباني وکړي.د جناب ثمامه رضی الله عنه سره مدینې منورې ته نژدې یوه داسې واقعه وشوه چې د هغه په وهم او گمان کې هم نه وه .

واقعه دا وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مجاهدینو یو گروپ د مدینې منورې د امن وامان د څارنې لپاره مقرر کړی ؤ ، تر څو په مدینه کې څوك بدامني ونکړي او یا پرې د دشمن له خوا د شپې حمله ونه شي.د مجاهدینو دغه گروپ د شپې په گزمه ؤ چې ثمامه ئی گرفتار کړ خو هغوی ته دا پته نه وه چې دا څوك دی او له کومه ځایه راغلی دی.

ثمامه ئی راوست او د نبوی جومات په یوه ستنه پورې ئی وتاړه، کله رسول الله صلی الله علیه وسلم راشي نو د دغه قیدی په هکله ئی چې څه هدایت وفرمایل د هغه د هدایت مطابق به عمل وشي.

کله چې حضور صلی الله علیه

وسلم جومات ته تشریف راوړ گوری چی ثمامه ئی د جومات ستنی پوری تړلی دی.رسول الله صلی الله علیه وسلم چی ثمامه ولید نو وئی فرمایل:

تاسو پوهیږئ چی تاسو څوك نیولی دی؟

ټولو مجاهدینو ځواب ورکړ چی نه مونږته هیڅ پته نشته چی دا څوك دی.

حضور صلی الله علیه وسلم ځواب ورکړ چی دا خو ثمامه بن اثال دی،د ده سره ښه سلوك وکړئ.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته تشریف یوړو او د ثمامه له پاره ئی د ډوډۍ بندوبست وکړ او وئی فرمایل چی ثمامه ته به سهار او ماښام زما د اوښی شیدی استوئ.

بیا ئی ثمامه ته هغه لیك وریاد کړ چی په هغه کی حضور صلی الله وسلم له ثمامه نه د اسلام د قبولولو خواهش کړی ؤ.

ثمامه ځواب ورکړبنه به دا وی چی ما قتل کړی،ځکه ما ستا ډیر صحابه قتل کړی دی او که معافی راته وکړئ نو دا به ستا په ما احسان وی او زه به ئی قدردان یم او که مال او دولت غواړئ نو څومره مال چی ته غواړی هغی ته حاضر یم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم تری لاړ او دوه ورځی ئی ثمامه رضی الله عنه په همدی حالت کی پریښود ، لیکن ډوډۍاو شیدی به د پخوا په څیر هغه ته رسیدل. دوه ورځی وروسته تری رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا پوښتنه وکړه،چی ثمامه ! ستا رائی څه ده؟

ثمامه ځواب ورکړ: خبره هم هغه ده چی مخکی می درته عرض کړی وه.

که معافی راته وفرمائی مهربانی به دی وی او زه به ئی قدردان یم، که قتل می کړئ نو دخپلو ملگرو بدله به واخلئ او که مال غواړئ ستا د وینا مطابق مال ورکولو ته حاضر یم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ثمامه بیا په هم هغه حالت کی پریښود او په دریمه ورځ ئی بیا تشریف راوړ او پوښتنه ئی تری وکړه: ثمامه اوس دی رائی څه ده؟

هغه ورته وویل چی زما رائی هم هغه ده چی مخکی می درته عرض کړی وه.

که معافی راته وفرمائی مهربانی به دې وی او زه به ئی قدردان یم،که قتل می کړئ نو د خپلو ملگرو بدله به واخلئ او که مال غواړئ ستا د غوښتنی مطابق مال ورکولو ته حاضر یم.

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو صحابه ؤ ته حکم وکړ چی ثمامه آزاد کړئ چی لاړشی.

کله چی ثمامه رضی الله عنه آزاد شو نو په خپل اوښ سپور شو او د مسجد نبوی نه بهر شو، مدینی منوری ته نژدی ئی وکتل چی په یوه ځای کی اوبه روانی دی فوراً ئی اوښ په گونډو کړ او راښکته شو او غسل ئی وکړ او واپس مسجد نبوی ته ولاړ او د ټولو خلکو په وړاندی ئی په اوچت آواز دا اقرار وکړ.

اشهدان لااله الاالله و اشهدان محمداً عبده و رسوله.

زه گواهی ورکوم چی د الله نه بل حقیقی معبود نشته او زه گواهی ورکوم چی محمد د الله رسول او بنده دی.

بیا ئی د محبت او اخلاص نه په ډك آواز وویل: ای رسول الله صلی الله علیه وسلم! د اسلام له قبولولو نه مخکی می د ځمکی پر مخ د ټولو نه زیات ته بدی شوی،مگر اوس می په ټول کائنات کی زیاته مینه او محبت له تا سره دی.

په الله می دی قسم وی چی له دی نه مخکی می په ټولو ادیانو کی د اسلام دین ته د نفرت په سترگه کتل او اوس راته په ټولو ادیانو کی مقدس دین د اسلام ښکاری.

په الله می دی قسم وی چی د دې

نه مخکی می د مدینی ښار ستا په وجه په ټولو ښارونو کی بدی شه مگر اوس راته د دنیا په ټولو ښارونو کی ښکلی ښار د مدینی ښکاری.

بیا ئی په ژړغونی آوازعرض وکړ.یا رسول الله (صلی الله علیه وسلم) !په جهالت کی می ستا صحابه په ډیری بی دردۍ سره شهیدان کړی،زه به له دی گناه او سزا نه څنګه خلاص شم؟

دا خبری چی رسول الله صلی الله علیه وسلم واوریدلی نو وئی فرمایل:

ای ثمامه! مه ویریږه! د اسلام په قبولولو سره ستا تیر ټول گناهونه معاف کړی شول.ثمامه رضی الله عنه چی د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دغه زیری واورید نو ډیر زیات خوشحاله شو او وئی ویل: د جاهلیت په دور کی ډیر زیات مسلمانان زما له لاسه شهیدان شوی دی،په الله می دی قسم وی چی اوس می د هغی دوه برابره مشرکین نه وی مردار کړی تر هغه به قرار نه شم.اوس زما نفس،زما سر او زما هر څه ستا د دین د خدمت لپاره حاضر دی.

بیا ئی عرض وکړ: یا رسول الله(صلی الله علیه وسلم)!که ستا اجازت وی زه به د عمری د ادا کولو لپاره مکی ته لاړ شم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: عمره ضرور اداء کړه خو د اسلامی تعلیماتو په رڼا کی، بیا ئی ورته د عمری د اداء کولو طریقه وروښودله.

حضرت ثمامه رضی الله عنه د عمری د اداء کولو لپاره مکی معظمی ته ورسید او په اوچت آواز ئی دغه کلمات وویل:

لبیک اللهم لبیک لاشریک لك لبیك-ان الحمدو والنعمة لك والملك-لاشریك لك-

حاضریم الهی زه حاضریم-ستا څوك شریك نشته-زه حاضریم ټول تعریفونه او نعمتونه تاله ښائی او حکومت هم ستا-ستا هیڅ شریك نشته.

حضرت ثمامه رضی الله عنه هغه لمړی مسلمان ؤ چی د لمړی ځل له پاره ئی په بیت الله کی په اوچت آواز تلبیه کلمات وویل.

قریشو چی په مکه کی په اوچت آواز دغه کلمات واوریدل نو د قهر او غضب انتها ته ورسیدل او توری په لاس د خپلو کورونو نه رابهر شول،تر څو دغه کس گرفتار کړی څوك چی د دوی د عقیدی خلاف په مکه کی آواز اوچتوی.

څه وخت چی د ثمامه رضی الله عنه خوا ته رانژدی شول نو هغه بیا په اوچت آوازتلبیه کلمات تکرار کړل.په قریشو کی یو ځوان نیزه پورته کړه او غوښتل ئی چی په ثمامه رضی الله عنه باندی حمله وکړی لیکن نورو قریشو هغه د دغه کار نه منع کړ او ورته ئی وویل:

تاسو دا پیژنئ چی دا څوك دی؟

دا خو د یمامه بادشاه ثمامه بن أثال دی.که مونږ ده ته ضرر ورساوه نو د ده قوم به مونږ په اقتصادی کلابندۍ کی ایسار کړی او د لوږی له لاسه به مونږ هلاك شو.

قریشو چی دا خبری واریدلی نو ټولو خپلی توری او نیزی پټی کړی او د ثمامه رضی الله عنه سره ئی د مفاهمت خبری شروع کړی.

ورته ئی وویل: ای ثمامه! په تا څه شوی،آیا ته بی دینه شوی ئی او د خپل پلار نیکه دین دی پریښود؟

هغه ځواب ورکړ:زه بی دینه شوی نه یم، بلکی یو بهترین دین می قبول کړی دی.او بیا ئی وویل.

د کعبی په رب می دی قسم وی تر هغه به د یمامه د ځمکی نه یوه دانه غنم تاسوته درنکړی شی تر څو چی مو زما د خوږ پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دین نه وی قبول کړی.

حضرت ثمامه رضی الله عنه د قریشو په وړاندی د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښودل شوی طریقه

عمره اداء کړه او د الله په لار کی ئی قربانی هم وکړه او خپل هیواد ته ستون شو.

کله چی خپل هیواد ته ورسید نو فوراً ئی فرمان صادر کړ چی د مکی په قریشو دی تر هغه خوراکی امداد بند کړی شی، تر څو چی دوی اسلام نه وی قبول کړی.

د حضرت ثمامه رضی الله عنه پدی کار په قریشو د مکی ځمکه تنگه شوه او د سختی گرانۍ او قحط سره مخ شول.

قریشو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو لیك واستولو او ورته ئی ولیکل.

زمونږ خو دا خیال ؤ چی ته به زمونږ په حق کی سیله رحمی وکړی او نورو ته به هم د سیله رحمۍ او همدردۍ تلقین وفرمائی .مگر تا زمونږ په حق کی د قطع رحمۍ مثال قایم کړ،زمونږ پلار نیکه دی له تیغه تیر کړل او اوس مونږ د ولږی وژنی .

ته مهربانی وکړه او ثمامه بن اثال ته هدایت وکړه چی هغه زمونږ اقتصادی کلابندی ماته کړی او مونږ ته د خوراکی موادو رالیږل بیا شروع کړی.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ثمامه رضی الله عنه ته لیك واستولو او د قریشو د اقتصادی کلابندۍ د ماتولو امر ئی ورکړ.

ثمامه رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حکم اومانه او قریشو ته ئی د خوراکی موادو استول بیا شروع کړل.

حضرت ثمامه رضی الله عنه تر آخره د اسلام د دین وفادار او د رسول الله صلی الله علیه د کړو وعدو پابند پاتی شو.

کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم له دی فانی دنیا نه رحلت وکړ او ځنی خلك په انفرادی او اجتماعی ډول له اسلام نه وگرځیدل او بل خوا مسلمه کذاب د نبوت دعوه وکړه او خپل قوم (بنو حنیفه) ته ئی په ځان د ایمان راوړو دعوت ورکړ،نو په دغه وخت کی ثمامه بن اثال رضی الله عنه د هغه مقابلی ته راووت او خپل قوم ته ئی وویل:

ای بنو حنیفه ؤ!

له تیاری نه رابهر شئ او رڼا ته راشئ او ځانونه د مسلمه کذاب له فتنی نه اوساتئ،که چا د مسلمه کذاب دعوت قبول کړ نو هغه به ډیر بدبخته وی او که چا ئی مخالفت وکړ نو یقیناً هغه سری نیك بخته انسان دی او بیا ئی وفرمائیل:

ای بنو حنیفه ؤ!

خپل ځانونه د مسلمه کذاب له شیطانی جال نه وساتئ او په دی خبره ځان ښه پوهه کړئ چی حضرت محمد رسول الله د الله تعالی رښتینی پیغمبر دی او تر قیامته به بل پیغمبر دی دنیا ته رانشی او د هغه په نبوت کی هیڅ شك نشته.

بیا ئی د هغو په وړاندی د قرآن کریم دغه آیات تلاوت کړ.

تنزیل الکتاب من الله العزیز العلیم غافر الذنب وقابل الترب شدیدالعقاب ذی الطول لا اله الاهوالیه المصیر. (سورة غافر - ۳)

اوس د دی پاك کلام په مقابل کی د مسلمه کذاب درواغجنه وینا څه حیثیت لری؟

یاضفدع نقی ماتنقین لا الشراب تمنعین و لا الماء تکدرین.

ای ترږدونکی چنگښی! ته څومره ترار کوی،نه څوك له اوبو منع کولی شی او نه اوبه خړولی شی.

ورروسته ثمامه بن اثال رضی الله عنه د خپل قوم هغه تکړه تکړه ځوانان چی په دین مضبوط ولاړوو راجمع کړل او د مرتدینو په خلاف ئی جهاد اعلان کړ.

رضی الله عنه

هستوي وسلې او د NPT معاهده

(ل -م- الف)

د ۱۹٤٥م کال د جولایی میاشت وه چې هستوی تباه کوونکی وسلی له ډیرو تجربو وروسته د انسانی هلاکت لپاره میدان ته راووتی. په دی وخت کې ددوهم نړیوال جنگ د ځوبش درجه په کافی اندازه لوړه شوی وه چې هستوی وسله دجاپان په دوه ژ ښارونو «هیروشیما» او «ناگاساکي» استعمال شوه او د جاپان په زرگونو خلك د اجل کومی ته وغورځیدل. د یو رپورټ له مخی د ۱۹٤٥ کال د اگست دمیاشتی په شپږمه نیټه د هیروشیما په ښار کی یوه درنه اتومی چاودنه وشوه چې تقریباً (۷۰۰۰۰) اویا زره نه تر یو لاك پوری انسانان پکی له منځه لاړل همدا رنگه د هیرو- شیما له چاودنی دری ورځی وروسته یعنی د اگست په (۹) نیټه د ناگاساکي په ښار کی یوه بله چاودنه وشوه او له (٤٠) زرونه زیات انسانان پکی له ژوند څخه محروم شول، دا په نړیوال تاریخ کی د انسانی تباهی یو المناك او دردونکی داستان دی.

ددوهمی نړیوالی جگړی په دوران کی چی هستوی وسلو کومه تباه کوونکی نتیجه وښودله، په نړیواله سطحه یی یو دهشت او ویره راوپاروله او اکثره غیر اتومی هیوادونه وو چی دژوند تیریدل ورته د اتوم لرونکو هیوادونو په مقابل کی گران ښکاره شو، هماغه وو چی یو لړ هیوادونو د ملگرو ملتو د امنیت شورئ ته د دا ډول وسلو د نه جوړولو او بندولو وړاندیزونه وکړل. ددی قرار داد لاسلیك کولو ته لومړی دری هیوادونه امریکا، کاناډا، او برتانیا مجبور شول او د ۱۹٤٥م کال د نومبر په میاشت کی یی دا قرارداد لاسلیك کړ. وروسته له دی د لومړی ځل لپاره د ۱۹٤٦ کال د جنوری په میاشت کی د لندن په ښار کی د ملگرو ملتو عمومی غونډی په یو اتفاق یو قرارداد منظور کړ چی دهستوی وسلو د مخنیوی او خاتمی لپاره دی یو کمیسیون جوړ کړل شی اودا کمیسیون بایدداسی تجاویز را منځته کړی چی د اتومی او هایدروجنی وسلو د مخنیوی او خاتمی سبب شی مگر داسی ونه شول، دی کمیسیون یوازي د هستوی وسلو دتخفیف نوم خپل کړ او بس. وروسته بیا دی کمیسیون ته اتومی طاقت دسوله ایز مقاصدو د استعمال لپاره او د اتومي وسلو د مخنیوی لپاره یو لړ مسؤلیتونه ور پغاړه شول.

څرنگه چی د نړیوال اتومی دور د پیل کیدو وروسته دملگرو ملتونو

غړي هیوادونه په اتومي او غیر اتومي هیوادونو تقسیم شول او زیاتره هیوادونه د سوله ایزو مقاصدو لپاره د اتومي طاقت حامیان وو نو په دې اړوند په ۱۹۵۳ کال کې د امریکا جمهور رئیس «ائیزن هاور» په ملګرو ملتو کې «اتوم د امن لپاره» یو تجویز وړاندې کړ چې اتومي قوت د فوځي مقاصدو پځای د سوله ایزو مقاصدو لپاره استعمال شي، دې تجویز ۱۹۵۷ کال کې د (I.A.E.A) (International Atomic Energy Agency) د قیام لاره هواره کړه.

د اتومي وسلو په جوړولو کې پخواني شوروي اتحاد او برتانیا تر ټولو سبقت لرې چې په ۱۹۴۹ کال یې اتومي وسلې تیاری کړې بیا په ۱۹۵۳ کې شوروي او ۱۹۵۸ کې برتانیې هایدروجني بمونه تیار کړل، په ۱۹۵۲ کال کې امریکا د اتومي قوت خاونده شوه، په ۱۹۶۰ کې فرانسي د اتوم او ۱۹۶۸ کې د هایدروجن بم تیار کړ، چین په ۱۹۶۴ کې د اتوم بم او په ۱۹۶۷ کې د هایدروجن بم د جوړولو صلاحیت حاصل کړ. په دې ډول د ۱۹۶۰ لسیزه کې اتومي وسلو دعالمي سیاست دور بدل کړ او په نړۍ کې د سوړ جنګ بنیاد کیښودل شو.

د اتومي وسلو ددې ډول جد وجهد سره غیر اتومي هیوادونه د یو لړ خطراتو سره مخ شول او په ۱۹۵۸ کې لومړنی هیواد ایرلینډ ؤ چې ملګرو ملتو ته یې د اتومي وسلو د خپریدلو د مخنیوی تجویز وړاندې کړ، په ۱۹۵۹ کې د ایرلینډ لخوا تجویز شوی قراردادته د ملګرو ملتو منظوری حاصله شوه او په دې کې هغو هیوادونو ته چې د اتومي وسلو د مخنیوی طرفدار وو؛ داسې ډاډګیرنه ورکړې شوه: هغه هیوادونه چې د اتومي وسلو د مخنیوی طرفداری نه کوی باید نورو هغو هیوادونو ته چې د اتومي وسلو د جوړولو اراده لرې، ددې ډول سامان الاتو د راکړې ورکړې څخه دې ډډه وکړی.

په ۱۹۶۰ کې د ملګرو ملتو د عمومي اسمبلۍ له خوا د ایرلینډ یو بل قرارداد ته هم منظوري ورکړې شوه. په دې قرارداد کې د اتومي وسلو د مخنیوی لپاره یوه لایحه ترتیب شوه او د اتومي وسلو په کنتنی او کنترول باندې زور راوړل شو. په ۱۹۶۵ کې د ملګرو ملتو عمومي اسمبلۍ یو بل قرارداد هم پاس کړ، په دې قرارداد کې دا وویل شول چې د اتومي وسلو د خپریدلو د مخنیوی په باب باید د یوی بین المللي معاهدې لپاره مذاکرات وشي. په ۶۷-۱۹۶۶ کال کې امریکا او شوروی ددې معاهدې د متن لپاره مذاکرات وکړل، دلته باید یاده کړو چې د ۱۹۴۵ نه وروسته پنځه ممالك چې هغه د امریکا متحده ایالات، شوروی اتحاد، فرانسه، برتانیا او چین اتومي طاقتونه جوړ شوی وو خو شوروی او امریکا چې زبر ځواکونه ګڼل کیدل ددې مسئلې اصلي عاملین وو او په ۱۹۶۷ کال د اګست دمیاشتې په ۲۴ نیټه یې د وسلو دتخفیف کمیټې ته د معاهدې د متن مختلفې مادې وړاندې کړې. همدا رنګه په ۱۹۶۸کال د جنورۍ د میاشتي په ۱۸ نیټه دې دواړه هیوادونو ددې معاهدې هغه مادې چې دوی پرې نظر ثاني کړې وه بیا دغې کمیټې ته ورکړې او د همدې کال د جنوی په ۲۲ نیټه د ملګرو ملتونو عمومي اسمبلۍ د ۹۵ رایو په غوڅ اکثریت سره ددې معاهدې مفرداتو ته منظوري ورکړه او یوازې څلورو هیوادونو ددې معاهدې مخالفت وکړ.

په ۱۹۶۸ د جولای د میاشتې په لومړۍ نیټه دا معاهده د لاسلیك کولو لپاره وړاندې شوه او په یوه ورځ کې امریکا ، شوروی او برتانیا د ۶۲ هیوادونو په شمول دا معاهده لاسلیك کړه. په ۱۹۷۰ کې د مارچ په پنځمه امریکا ددې معاهدې توثیقي اسناد جمع کړل او له همغې ورځې نه (NPT) نافذ العمل شوه. اوس په

عمومي ډول ددې معاهدې د طرفدارو هیوادونو شمیر ۱۷۲ ته رسیدلی دی کومو ته چې د اتومي وسلو د نه خپریدلو دبین المللی کوښښونو بنسټیز حیثیت حاصل دی.

د (NPT) د۲۵ کلونو دپوره کیدلو نه وروسته ددې دمیعاد د پراخولو لپاره د ۱۹۹۵ کال د اپریل د میاشتی له ۱۷ نیټې څخه د مۍ تر ۱۲ نیټې پورې په نیویارك کې یو کنفرانس جوړ شوی ؤ چې په دې معاهده کې غړې هیوادونه د توسیع لپاره فیصله وکړی. د امریکا متحده ایالات ددې معاهدې د غیر مشروط او نا معلوم وخت لپاره د توسیع حامي ده خو اوس په دې معاهده کې په ځینو هغو ممالکو چې ددې معاهدې غړیتوب نلری او د اتومي وسلو د جوړیدو قصد لری، له ډیره وخته راهیسې پرې د ملګرو ملتو ددې معاهدې د غړو هیوادونو او په خاص ډول دامریکا او ددې د اندیوالانو هیوادونو ډول ډول تهدیدونه جاري دي. د امنیت شورې هغو هیوادونو ته چي غیر اتومي دي اود اتومي طاقتونو لخوا ورته خطره او ویره متوجه ده لفظي داډ ګیرنه ورکوی خو اصل حقایق چې د پردې تر شادې څه بل شان دي.

مونږ اکثره وختونه دا بنه په داګه ویلی دي او وایو چې د ملګرو ملتو سازمان د امریکا د متحده ایالاتو په خصوصي اشارو څرخیږي او دا خصوصي اشارې یوازې او یوازې د اسلامي نړۍ د کمزوری کولو پخاطر تر سره کیږي. د بیلګې په ډول لوی طاقتونه او امریکا په جنوبي اسیا کې په پاکستان اقتصادي بندیزونه په دې خاطر لګوی چې دا هیواد د اتومي انرژۍ څښتن نه شي مګر ددې بر عکس هند، اسرائیل او جنوبي افریقا نه یوازې دا چې د اتومي وسلو په جوړولو بوخت دي بلکې د NTP خلاف کوی او ددې سره سره بیا هم د اقتصادي تهدیدونو او بندیزونو څخه مستثنیٰ ګڼل کیږي.

په منځنی ختیځ کې اسرایلو ته د اتومي طاقت د جوړیدلو عام وتام اجازت ورکړی شوي دی. د سټلایټ پذریعه د یو لاس ته راغلی معلومات له مخې اسرایل نن وخت ددوه سوه اتومي بمونو لرونکی هیواد دی او په ظاهره د اتومي وسلو د جوړولو انکار کوی. د اسرایل یو اتومي طاقت جوړیدل او د NPT په معاهده نه لاسلیك مصر څو واری ملګرو ملتو ته د خپل رد عمل اظهار کړی مګر بیا هم اسرایل د NPT په معاهده د لاسلیك څخه انکار کوی او ملګری ملتونه او یا امریکا یې په مقابل کې هیڅ ډول عکس العمل نه ښکاره کوی. همدا رنګه سوریې (شام) هم څو واری دا احتجاج کړی او د اسرایل اتومي قوت جوړیدل یې په منځنی ختیځ کې امن او سولې ته خطر ګڼلی دی. خو ددې په څنګ کې ایران د روسیې څخه دوه اتومي پروسسنګ پلانټونه حاصلول غوښتل او د امریکا متحده ایالاتو پرې په ترپو تندی د خپل رد عمل اظهار وکړ او د امریکا لخوا روسیې ته خبرداری ورکړل شوی که چیری روسیه د ایران سره د اتومي پلانټ د ورکولو معامله وکړي؛ د امریکا او روسیې اړیکې به متاثره تعبیر شي.

د عراق د اتومي انرژۍ د تباه کولو واقعه هم ددا ډول مکارو اشارو یوه برخه ده چې د «صدام» غوندی کمونسټ په لاس یې تباه کړه. لنډه دا چې که هیوادونه اتومي دي او که غیر اتومي، که د NPT په معاهده کې ښکیل دی، که آزاد . خو دا د نړۍ دسیاسی بازار یو ساعت تیری دی او اصلی مقصد او هدف د اسلامي او غیر اسلامي نړۍ تر منځ عقیدوی کشمکش دی. یهودی او نصرانی طاقتونه که د هغوی تر منځ هر څومره جغرافیایی کرښې رابښکل شوی دی خو ټول د عقیدې په لحاظ یو منشور او یو مرام څرخیږي او غواړي چې اسلامي طاقت او مسلمان ملت په هره حربه او هر سیاسی یا اقتصادي چال چې وی کمزوری او په تدریج سره یې له منځه یوسی او خپل طولانی با-دشاهت او راج ته لاره هواره کړی.

(په تیر پسې)

د اسلام ستر فاتح حضرت عمر فاروق

رضي الله عنه

بشیر الله «ظفر»

حضرت عمر فاروق له اسلام څخه وروسته:

لکه څنګه چی مخکی وویل شول، د اسلام دی ستر فاتح په میړانه او بهادری کی هیڅ ساری نه درلود ابن اسحاق پخپل سند سره د عمر رضي الله عنه څخه نقل کوی او وایی ما چی څنګه داسلام مقدس دین ته لبیك ووایه او اسلام می قبول کړ نو دابو جهل کور ته لاړم، دروازه می ورته ووهله ابو جهل راووت او زما سره یی ستړی مشی وکړل او ویی ویل چی عمره! څنګه راغلې؟ عمر رضي الله عنه وایی ما ورته وویل: زه ددی لپاره راغلم چی تا خبر کړم او هغه دا چی ما په الله تعالی او د هغه په رسول چی محمد صلی الله علیه وسلم دی ایمان راوړی دی. ددی خبری سره ابو جهل دروازه بنده کړه او ویی ویل: ډیر بد خبر دی راوړی دی!

د حضرت عمر رضي الله عنه د اسلام د راوړلو څخه وروسته مسلمانانو ته جرئت او عزت ور په برخه شو او د حضرت عمر رضي الله عنه داسلام د راوړلو وجه وه چی د اسلام دین ډاګیز شو. مجاهد رحمة الله علیه د ابن عباس رضي الله عنه په حواله روایت کوی وایی چي ما د عمر رضي الله عنه څخه پوښتنه وکړه چي دڅه په وجه تاته «فاروق» لقب در کړی شویدی؟ ابن عباس رضي الله عنه وایی چی عمر رضي الله عنه ماته د اسلام د راوړلو د مفصلې قیصی څخه وروسته وویل: ما رسول الله صلی الله علیه وسلمٔ ته وویل: ایا زمونږ مرګ او ژوند په حقه نه دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم و- فرمایل: ولی نه! زمونږ ژوند او مرګ دواړه د حق لپاره دی. عمر رضي الله عنه وایی چی ما ورته وویل: نو بیا د اسلام دین ولی پټ چلوو؟ ولی په ښکاره دا کار نه کوو؟ ابن عباس رضي الله عنه وایی چي عمر رضي الله ماته وویل: بیا مونږ ټول صحابه (رضي الله عنهم) د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره یو ځای پداسی حالی کی راووتو چي هغه زما او د حمزه رضي الله عنه په منځ کي روان ؤ. قریشو چي کله دا منظر ولید نو ډیر خفه او غمجن شول. ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه وخت کی د «الفاروق» لقب راکړ، ځکه چی د اسلام دین ښکاره شو او د حق او باطل تر منځ فرق راغي.

ابن مسعود رضي الله عنه وایی مونږ پر دی قادر نه وو چی په کعبه کی لمونځ وکړو خو کله چی عمر رضي الله عنه اسلام راوړ، مونږ په دی و- توانیدو او په کعبه کی مو په ښکاره لمونځ اداء کړ او هم د عزت خښتنان

شو. همدا رنګه ابن عباس رضي الله عنه وايي هغه لومړنی شخص چې د اسلام آواز يې په ډاګه کړ، حضرت عمر رضي الله عنه دی. د اسلام ددين دسر لوړی‌او د په ډاګه کيدلو يوازينی سبب دعمر رضي الله عنه په اسلام مشرف کيدل او دده د بې ساری ميړانی او بهادرۍ شهرت ؤ ځکه دوخت کفار ټول دعمر رضي الله عنه څخه ډير ويريدل.

ددی نه وړاندي چې کومو اصحابو ته به دهجرت کولو امر وشو، هغوی به دهجرت لاره په پټه وهله او يوازينی شخص عمر رضي الله عنه ؤ کله چې يې د هجرت کولو اراده وکړه نو خپله توره، لينده او غشي يې له ځان سره سمبال کړل او کعبې ته راغی او د بيت الله طواف يې پداسې حال کې وکړ چې قريش هم ناست وو، له طواف کولو وروسته دقريشو مجلس ته راغی او ورته يې وويل: ما د هجرت کولو اراده کړې ده، که په تاسو کې څوك غواړی چې خپله مور بوره کړی، بچي يتيمان کړی او ښځه کونډه کړي نو زما په وړاندی دی راشي او زما مخه دی ونيسي! له دی خبرې سره په قريشو کې په يو کس کې هم دا جرئت پيدا نه شو چې دده مخه ونيسي او له هجرت کولو څخه يې منعه کړي. عمر رضي الله عنه ښه په ښکاره مدينې ته هجرت وکړ.

حضرت عمر رضي الله عنه د الله تعالی په نزد د ډير فضيلت او لوړی مرتبې خاوند دی ځکه ورته الله تعالی په دنيا کې د جنت زيرې ورکړې دی.

د عمر رضي الله عنه فضيلت او غوره والی د احاديثو له نظره:

د حضرت عمر رضي الله عنه فضيلت او غوره والی په نبوی احاديثو کې ډير زيات ليدل کيږي.

بخاري او مسلم دواړه د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت کوی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې زه ويده وم او ما خوب وليد چې زه په جنت کې ګرځم، په جنت کې مې يوه ښځه پداسې حال کې چې د يوې ښکلې بنګلې په خوا کې اودس کوی وليده، ما تری پوښتنه وکړه چې دا بنګله د چاده؟ هغې راته په ځواب کې وويل چې دا د عمر رضي الله عنه ده. رسول الله صلی الله عليه وسلم عمر رضي الله عنه ته وويل: چې ماته پدغه وخت کې ستا غيرت را ياد شواو بيرته راستون شوم . عمر رضي الله عنه په ژړا شو او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وويل: يا رسول الله! زه به په تا باندی هم غيرت کوم!؟

بخاري او مسلم د ابن عمر رضي الله عنه څخه يو بل حديث نقل کړی دی وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم وايي چې ما خوب وليد او په خوب کې مې شيدی وڅکلې او بيا مې عمر رضي الله عنه ته دا شيدی ورکړې چې هغه هم دا شيدی و څکلې صحابه کرامو عرض وکړ يا رسول الله! ددی خوب تعبير څه دی؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ددی خوب تعبير ما علم (نپوهيږم) وويست.

د ابي سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې ما د نبی کريم عليه السلام نه اوريدلی دی چې ما خوب وليد او خلك مې په وړاندی راتلل. د چا کميسونه تر سينو پوری وو او د چا ددی نه لاندی. په دی کې عمر رضي الله عنه هم راغي او دومره اوږد کميس يې اغوستی ؤ چې په ځان پسې يې راښکه؟ صحابه کرامو پوښتنه وکړه! يا رسول الله! ددی خوب تعبير څه دی؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ددی تعبير دين دی .(بخاري-مسلم)

د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم عمر رضي الله عنه ته و فرمايل: اي عمر د خطاب ځويه! زما دی په هغه ذات قسم وی

چې زما روح د هغه په لاس کې دی، شیطان ستا سره په یوه لاره نه مخامخ کیږي، شیطان لار پریږدي او په بله ځي. (بخاری- مسلم)

ابن عمر رضي الله عنه وایي چې نبی صلی الله علیه وسلم و فرمایل: بې له شکه دعمر ژبه او زړه د الله تعالی دحق لپاره ګرځولی دی. (ترمذي)

أم المؤمنین حضرت عایشه رضي الله عنها وایي چې خوز نبي صلی الله علیه وسلم و فرمایل: زه چې وینم او ګورم د عمر رضي الله عنه له مخې نه شیطانان، پیریان او انسانان تښتي. (ترمذي)

طبرانی د فضل ابن عباس رضي الله عنه نه دا حدیث نقلوی او وایی: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې زما نه وروسته حق د عمر رضي الله عنه سره دي.

طبراني په اوسط کې د ابو سعید الخدری رضي الله څخه حدیث نقلوي وایي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: چا چې د عمر رضي الله سره بغض او حسد وساته، په حقیقت کې دغه انسان زما سره بغض او حسد وکړ او چا چې د عمر سره مینه وکړه، په حقیقت کې یې زما سره مینه وکړه. بې له شکه الله تعالی په خلکو فخر کوي او خاص فخر په عمر رضي الله عنه باندې کوی، الله تعالی هیڅ یو داسې نبي نه دی لیږلی چې د هغه په امت کې یو محدث نه وی او که زما په امت کې محدث وی نو هغه به عمر (رضي الله عنه) وی. صحابه کرامو عرض وکړ: ای رسول الله! محدث څه ته وایی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل: محدث هغه چا ته ویل کیږي چې ملایک د هغه په ژبه باندې خبرې کوی.

جابر بن عبدالله رضي الله عنه وایی چې عمر رضي الله عنه ابو بکر-صدیق رضي الله عنه ته وویل: له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وروسته اي غوره انسانه! ابوبکر-صدیق رضي الله عنه ورته وویل: تا چې کوم الفاظ ماته استعمال کړل نو ما د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه اوریدلي دي چې د غوره والی لمر نه دی ختلی مګر عمر رضي الله عنه دی. (ترمذي)

حضرت انس بن مالك رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زما په امت کې رحم کوونکی ابوبکر صدیق، دالله لپاره ډیر سخت عمر، دربښتینولی او حیا خاوند عثمان او په حلالو او حرامو باندې پوهه معاذ بن جبل دی.

او همدا رنګه ابو یعلي د ابن عمر رضي الله عنه په روایت کې زیاتوی چې زما په امت کې فیصله کوونکی انسان علي رضي الله عنه دی. (احمد- ترمذي)

حضرت عمر رضي الله عنه د اسلافو له نظره:

ابو بکر صدیق رضي الله عنه فرمایي: دځمکې پر مخ د عمر رضي الله عنه نه زیات خوښ انسان ماته بل نشته. ابو بکر صدیق رضي الله عنه ته د وفات د مرض په وخت کې وویل شول: تا چې عمر رضي الله عنه په خلافت باندې موظف کړی وی، ته به دقیامت په ورځ الله تعالی ته څه ځواب ورکوی؟ ابوبکر صدیق رضي الله عنه وویل: چې ما په خلکو کې غوره شخص خلیفه کړی دی. همدا رنګه حذیفه رضي الله عنه وایي: زه داسې سړی پرته له عمر رضي الله عنه نه وینم چې هغه د الله تعالی په باره کې دچا نه ووېریږي او د ملامت ویونکی په خوله ملامت شي او ووېریږي یعني واحد انسان عمر دی چې پرته له الله تعالی نه د بل چا ویره نه محسوسوی.

(ادامه لری)

دستوني خوږ

(TONSLITIS)

لعل محمد «افسوس»

مرۍ هسې خو مختلفې ناروغۍ لري خو د ستوني يا ټانسلونو التهاب په ټوله نړۍ کې يوه عامه ناروغي ده. دا ناروغي د يو ډول خاص ميکروب په وجه منځته راځي او کله کله د وايرس له امله هم منځته راتلای شي. د مرۍ عامي ناروغۍ اکثره په هغو ماشومانو کې ډيرې ليدل کيږي چې په ښاري ماحول کې هستوګنه کوي او ښوونځيو ته په ښاري بسونو کې ډير تګ راتګ کوي، ددې نه علاوه هغه ماشومان چې ايس کريم، چکليټونه او چيونګ ګم (جاولي) ډيرې خوري په دې ناروغۍ اخته کيږي.

لويان هم په دې ناروغۍ اخته کيږي او په ځانګړې توګه هغه خلك چې تروه، ډير يخ يا ډير ګرم، غوړ او مصالحه دار خوراکونه کوي د دې ناروغۍ ښکار کيږي، ځکه په دې ډول خوراکونو کې يو ډول تيزابي مادې موجودې وي چې په حلق يا ستوني اثر کوي او د ستوني مدافعتي قوت کمزوری کوي. همدارنګه دا ناروغي د سيګرټو او الکولو په وجه هم منځته راځي او دچاپيريال الودګي او ملوثه هوا يې نن سبا مهم عامل ګڼل کيږي، په هغو اشخاصو کې چې په اقتصادي لحاظ کمزوري وي او په ورځني ژوند کې متوازن غذا نه وررسيږي او يا د جسماني کار په ځای ټوله ورځ ناسته کوي؛ ډيره ليدل کيږي. استادان، سندرغاړي او هغه څوك چې ډير ويل کوي په دې ناروغۍ د اخته کيدو زيات احتمال لري. کله کله ځينې نورې ناروغۍ لکه ذيابيتيس يا شکره، شرې، توره ټوخلې او محرقه تبه چې دانسان مدافعتي قوت کمزوری کوي؛ هم ددې موجب جوړيدې شي.

ټانسلونه عموماً د يو تندرست او صحت مند انسان په بدن کې

دمیکروبونو او اجنبی اجسامو په خلاف دفاعی اجسام پیدا کوی او دا میکروبونه او اجنبی اجسام نه پریږدی چی د خولی او پزی له لاری د انسان داخل ته منتقل شي، مګر کله کله ټانسلونه پخپله دمیکروبونو ښکار شي. که چیري د ټانسلونو ناروغي معمولی وګڼل شی او په وخت یی تداوی او معالجه و نشي نهایت مهلك او خطرناك عواقب را منځته کولی شي.

اعراض او علایم:

١- که دټانسلونو التهاب په لومړنیو مراحلو کی وی ناروغ دستونی خاربښت، نا ارامي، معمولی غوندی تودخي او دسر دردی شکایت لری.

٢- د خوراك- څښاك په وخت کی ستونی درد کوی.

٣- که دناروغۍ دول وخیم وی، ناروغ تر (١٠١) فارن هایټ درجی پوری تبه لری او نبض (puls) یی زیاتیږی.

٤- ناروغ د خوړلو اشتها (لوږه) نه لری.

٥- ناروغ بی خوبی لری.

٦- دستونی او تالو غدی التهابي او دردمنی کیږی.

٧- د ناروغ اواز ټیټ او ګنی کیږی او په خبرو کولو کی مشکل محسوسوی.

٨- غوږونه خاربښت کوی او درد مند وی.

٩- که د ستوني هغه برخه چی دتنفسي جهاز سره متعلقه ده او التهابی شی علامات یی ډیر شدید وی او ناروغ په ډیر بدحالت کی لیدل کیږی. که په دی مرحله کی په وخت د ناروغ علاج ونه کړل شی انتان (Infection) حنجری، تنفسی نالیو او بالأخره سږو ته رسیږی او په نتیجه کی د نمونیا (Pnemonea) غوندی خطرناکی ناروغي سبب جوړیدی شي.

تشخیص
Diagnosis:

هغه اشخاص چي په دی ناروغۍ اخته شي او دا ناروغي معمولی وګڼی او په وخت یی درست او پوره علاج ته پاملرنه نه کوی ددی ناروغۍ په پنجو کی ګیریږی. همدارنګه هغه اشخاص چی د بندونو التهاب (Rumathesm) لری یعنی د هډوکو بندونه یی خوږیږی هم د ستونی په خوږ ډیر اخته کیږی او په دغه ډول شخص کی مزمن (Cronic) صورت اختیاروی په دی دوران کی د ناروغ معاینه وکړئ او وګورئ چی د حلق وروستنی دیوال به سوربخن رنګ لری او پرسیدلی به معلومیږی، همدا رنګه لمفاوی غدی یو څه پرسیدلي او سوربخن رنګ راوړی.

که د ستوني هغه برخه چي د تنفسی لاری سره متعلقه ده او ملتهبه وی، ټانسلونه نری غوندی خاوریچن او د سوزیدلیو داغونو په څیر رنګ لری.

که التهاب مزمن او دایمی وی هم د ټانسلونو یا حلقوم رنګ سور، پرسیدلی او د ربړی رنګ په څیر په نظر راځي. په ځینو ناروغانو کی د حلق د لاندیني دیوالونو غدود غټیږی.

د ستونی دخوږ دا ناروغي یو لړ اختلاطات لکه د سږو انتانی کیدل، د ګردی یا پښتورګو التهاب، روماتیزم او د زړه دداخلی برخي سوزش هم پیدا کولی شي.

علاج Treatment:

ستونی مختلف ډول ناروغې لری، ددی د سمی پلټنی او تشخیص لپاره باید یو ماهر او تجربه کار معالج ته رجوع وشی چی په صحیح ډول معالجه او تداوی شي.

مونږ ددعوت مجلی د قدرمنو لوستونکو د معلومات لپاره یو لړ احتیاطي تدابیر او ورسره د معالجي پخاطر یو څو کلمی عرض کول غواړو.

که د ناروغی علامات معمولی وی ناروغ باید دغه (Antiseptic) درمل لکه (Stripsil Lozenges) یا (Dybenol) استعمال کری. د (Listren) یا ددي بل متبادل میکروب وژونکی محلول باید په اوبو کی استعمال شي، دا ترکافي حده پوری ناروغ ته سکون ورکوی. همدا رنگه د سوډیم باي کاربونیټ په تړم محلول ستوني په ښه ډول صفا کیدی شی او ناروغ ته په کافی اندازه راحت ورکوی. په تړمو اوبو کی مالگه اچول او غرغړه کول هم د ناروغ لپاره فایده مند دی. د درد او تبی په صورت کی ناروغ ته (Aspirin) یا (Paracetamol) ورکړئ ددی درملو تر څنگ ناروغ ته د (Antibiotics) درملو ورکولو ضرورت دی، د ښه تاثیر لپاره ناروغ ته (Pencillin) پیچکاری کړئ خو دا په هغه صورت کی چی ناروغ د پنسلینو سره حساسیت و نه لری، که ناروغ له پنسلین سره حساس وی ددی پر ځای (Erethromycin) ورکړئ. دا باید په یاد کی وساتل شی چی ناروغ ته د انتی بیوتیك درملو د ورکولو څخه مخکی کلچر او د حساسیت ټیسټ ډیر لازمي دی.

که ناروغي زیاته وی او ناروغ زیات تکلیف محسوسوی په مکمل ارام کی یی وساتئ، ناروغ ته باید نرم او زر هضمیدونکی خواړه ورکړی شی او که ناروغ ته قبض (Constipation) پیداشی باید مسهل درمل ورکړی شي. که د مرۍ غدود ډیر التهابي (Inflematory) وی او ناروغ ته په لاس وروړو درد محسوسیږي، گرم ټکور ورکړئ، ددی سره پړسوب او درد کمیږی. که ناروغ د پوزی او حنجری تکلیف ولری په ناروغ د گرمو اوبو بړاس (بخار) تنفس کړئ. د ستونی خوږ که له نورو تنفسی ناروغیو څخه پیدا کیږی د یو ماهر معالج په مشوره یی تداوی وکړئ، تر څو د ستونی د خوږ مخه ونیول شي. همدا رنگه لکه څنگه چی مخکي وویل شول دا ناروغي د شخص د یو ډول عاداتو لکه د سیگرټو د څکلو، د الکولایډو استعمال، زیات کیناستل او د تروو او مصالحه دارو شیانو د خوراك په وجه منځته راځي نو ناروغ باید ددغو ذکر شوو شیانو له خوړلو او څکلو څخه ډډه وکړي. هغه ناروغي چی د انسان مدافعتي قوت کمزوری کوی مثلاً کم خوني، بد هضمي، روماتیزم، شکره یا شوگر مخکی له مخکی معالجه شي. بدنی سپورت ته خاصه پاملرنه او د خولی او غاښونو پاك ساتل ضروری خبره ده.

دنبوي ملغلرو اميل

دخلاص رزق دعاء:

د دغه لاندينۍ دعا په لوستلو سره الله تعالي اويا تكليفونه لري كوي،چي په هغو كي تر ټولو كم تكليف فقر او لوږه ده.

«لا حول ولا قوة إلا بالله و لا ملجأ ولا منجأ من الله إلا إليه» (مشكوة باب ثواب التسبيح والتهليل الخ فصل سوم و ترغيب وترهيب، ۲۸۷ج۲، باب الترغيب في قول لاحول ولاقوة الا بالله).

ترجمه: له الله تعالى نه پرته د فايدي لاس ته راوړلو او له تاوان څخه د ځان ساتلو توان نلرم او د الله تعالى نه پرته د پناه او نجات ځاي نلرم .

د فقر او لوږي د لري كولو لپاره دغه دعا د ورځي سل ځل ويل پكار ده.

«لا اله الا الله الملك الحق المبين»

د نوي نعمت د لاس ته راوړو په وخت كي دعا:

«الحمدلله الذي بنعمته تتم الصالحات»

ترجمه: صفتونه دي،هغه الله لره چي پوره كيږي د هغه په نعمت سره ښۀ حالتونه.

فايده= رسول الله صلي الله عليه وسلم به چي كله يو څيز د خوشحاليدو وليد نو.دا دعا به ئي وفرمائيله او كله به چي هغوي د څه خفگان څيز وليد نو داسي به ئي ويل:الحمدلله على كل حال-(ابن ماجه رقم۳۸۰۳-الحاكم ۱/٤۹۹-ابن السني رقم۳۷۷) السني رقم(۳۷۷).

دويمه دعا:«ماشاء الله لاقوة الابالله».

ترجمه: څه چي الله وغواړي (كوي) او طاقت نشته مگر په الله .

فايده: حديث كي راځي،كوم انسان باندي چي الله تعالي د ښځي يا د مال او اولاد احسان وكړي او دادعا ووائي نو په هغي كي به هيڅ آفت دى نه ويني،پرته له مرگ نه.ابن السني رقم ۳۵۷-الطبراني في الصغير(۱۲۲)سند ئي لږ كمزوري دي ليكن تائيد ئي د قرآن نه معلوميږي.سورة كهف ايت-۳۹)

دماشومانو ددمولو دعا:

«أعيذكما بكلمات الله التامة من كل شيطن و هامة ومن كل عين لامة»

ترجمه: پناه غواړم تاسو د واړو لره په كلماتو د الله باندي چي پوره دي د هر شيطان نه او د هر ضرري حيوان نه او د هري سترگي نه چي راجمع كوونكي ده شرلره.

(بخاري١/٤٧٧.مشكوة١/١٣٤)

فايده: رسول الله صلي الله عليه وسلم به حسن او حسين رضي الله عنهم پدي دعا دمول.

د بيمار پوښتنې په وخت کې دعا:

«لا بأس طهور إن شاء الله» (بخاري٢/٨٤٥)

ترجمه: پروا نه شته.دا ناروغي پاکوونکي ده ستا گناهونو لره، انشاءالله.

دوهمه دعا: «اسئل الله العظيم رب العرش العظيم ان يشفيك».

ترجمه: زه د لوي الله نه غواړم چي مالك د لوئي عرش دي چي تاله شفا درکړي.

فايده: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي:نشته يو بنده مسلمان چي تپوس وکړي د يو بيمار چي اجل (نيته)ئي لا نه ده حاضره شوي او دا دعا اوه ځله ووائي،مگر بيمار به الله تعالى خامخا روغوي.(ترمذي رقم ٢١٨٠-مشكوة١/١٣٥-وسنده صحيح)

دريمه دعا: «اذهب البأس رب الناس واشف أنت الشافي لاشفاء الا شفاءك شفاء لايغادرسقما»

ترجمه: ختمه کړه بيماري اي د خلکو ربه! او شفاء ورکړه ده ته ، ته شفا ورکونکي ئي،نشته شفا مگر ستا شفاده، داسي شفا ورکړه چي بيماري پري نږدي.(بخاري ٢/٨٤٧ مشكوة ١/١٣٤).

همدا رنگه سورة الفلق، سورة الناس اوسورة الفاتحه دا ټول په صحيح احاديثو کي راغلي دي چي د شفا د پاره ئي لوستي شي.

شپږمه دعا: «بسم الله اعوذ بعزة الله و قدرته من شر ما اجد وأحاذر».

(مسلم٢/٢٢٣-المشكوة١/١٣٤)

ترجمه: په نوم د الله تعالي پناه غواړم په عزت او قدرت د الله تعالي باندي، د شر د تکليف هغه نه چي زه ئي بيا منم او تري ډاريږم.

فايده: حديث کي راغلي چي د ځا کوم ځاي دردکوي نو دري ځله دي «بسم الله، بسم الله،بسم الله ووائي او اوه ځله دي اعوذ بعزة الله و قدرته من شر ما اجدو احاذر» ووائي او په هغه درمند ځاي دې‌لاس کيدي نو الله تعالي به ئي ښه کړي!

کله چې مريض له خپل ژوند نه نااميده شي:

«اللهم اغفرلي وارحمني والحقني بالرفيق الاعلى»

ترجمه: اي الله!ماته بخښنه وکړه! او رحم را باندي وکړه! او د اوچتو ملگرو سره مي يو ځاي کړه!

فايده: دا د رسول الله صلي الله عليه وسلم د مرگ په وخت کی دعا وه.(بخاري٢/٦٤١-مشكوة١/٢١٢ مسلم).

دويمه دعا: «لا اله الا الله والله اكبر- لا اله الاالله وحده-لا اله الاالله وحده لاشريك له-لا اله الاالله له الملك وله الحمد-لااله الا الله ولاحول ولاقوة الابالله».

فايده: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائي: چا چي دا دعا په بيمارۍ کي ولوستله او بيا مړ شو نو د جهنم اور به دي ونه سوزوي.

(ترمذي رقم/ ٣٦٧٠-ابن ماجه ٣٧٩٤ حديث صحيح).

د باران دعا:

له حضرت بي بي عايشه(رضي الله عنه) نه روايت دي چي څلي باران بند شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم له اصحابو سره عيدگاه ته سهار وختي ولاړ او دا دعا ئي ولوستله.

«الحمد لله رب العلمين الرحمن الرحيم ملك يوم الدين لا اله الا الله يفعل مايريد اللهم أنت الله لا إله الا أنت أنت الغني ونحن الفقرآء انزل علينا الغيث واجعل ما انزلت لناقوة وبلاغاً الى حين».

ترجمه: ټول صفتونه الله لره دي چي د دواړو جهانونو مالك دي، ډير رحيم او مهربان دي،د جزا د ورځي څښتن دي، له الله نه پرته بل څوك د عبادت وړندي چي څه وغواړي کوي ئي، الله ته زمونږ خالق ئي او له تا څخه پرته بل څوك د عبادت وړنشته دي،ته غني او مونږ محتاج يو،په مونږ باندي باران راو وروه او د رحمت باران زمونږ د قوت سبب وگرځوي.

(نوربيا)

پرسشهای شما در پرتو قرآن و سنت

از ولایت کابل یکی از دوستان گرامی ما فریدالله به کارکنان مجله دعوت نامه فرستاده و بعد از سلامهای مسنونه و احوال پرسی چنین پرسیده و می نویسدکه:

یك شخص دختر خویش را تقریباً ۱۴یا ۱۵ سال قبل به یك نفر به نکاح شرعی داده بود،که از شوهرش سه اولاد نیز متولد شده است.

تقریباً هفت سال میگذرد که نسبت خرابی دماغ شوهر اش از خانه مفقود گردیده و از طرف ورثهء شخص مذکور هر چند که تپ وتلاش شد تاحال هیچ احوال مرده ویا زنده یشان معلوم نه گردید. خانم و اولادهای شخص مذکور به شرایط بسیار دشوار زندگی به سرمیبرد و با مشکلات گوناگون روبرو اند.

دراین صورت پدر شخص مفقود می خواهد که خانم پسر مفقود شده خویش را به پسر دوهمی خویش به نکاح شرعی نکاح نماید. حل این مسئله را درروشنی قرآن وسنت تشریح نمائید که آیا نکاح زن مذکور به یوریشان جایز است یا خیر؟

برادر گرامی فریدالله جان!

سلامهای مسنونه شما را به وجیبه وعلیکم السلام و از احوال پرسی شما یك جهان تشکرمی نمایم.

برادر گرامی!اداره مجله دعوت به سوال شما در روشنی قرآن وسنت چنین پاسخ می دهد:

درمدتیکه شرهر خانم موصوفه لادرك است و از زنده و یا مرده بودن آن نیز اثری نیست. به زن مذکوره شرعاً وقانوناً حق ازدواج و نکاح به یوریشان جواز دارد،به شرطیکه موافقه زن مذکوره باشد.در این مورد دلائل ذیل را مطالعه نماید:

الف- نفقه حل وعیال بالای شوهر واجب بوده، درصورت نه دادن نفقه زن میتواندکه طلب فسخ نکاح شود.

ب- امن وتحفظ خانم نیز مسئولیت شوهر میباشد،در صورت عدم حفاظت دین وعصمت ایشان میتواند که خواهان فسخ نکاح شود.

ج- زن بالای شوهر حق بشری و فطری(جنسی)دارد وادا کردن ضرورت ذکر شده بالای شوهر واجب می باشد.

د- درباره زنیکه شوهراش مفقود شده باشد بعضی صحابه کرام مدت چهار سال تعین نموده است.

حضرت عمر رضی الله عنه دراین باره می فرماید که زن ایام عدت را سپری نموده و به شخص دیگر برایش نکاح جواز دارد.(باب عدة التی تفقد زوجها)

۲-حدثنی یحیی عن مالك عن یحیی بن سعید عن سعیدبن المسیب ان عمربن الخطاب قال:

ایما مراة غقدت زوجها فلم تدری این هو فانها تنتظر اربع سنین ثم تعتد اربعة اشهرو عشرا ثم تحل-موطاامام مالك -۴۳۲-کتاب الطلاق-ص۲۳۲-نصب الرایة للزیلعی-ص۴۷۲ج۳ -الدار قطنی کتاب النکاح باب امراة المفقود-ص۴۲۱-ج۲).

همچنین بعضی علمای کرام تنها مدت یك سال را تعین نموده و میگویند که زن بعد از انتظار یك سال مراحل عدت را طی نماید و سپس می تواند به شخص دیگری ازدواج نماید.

طوریکه وجوهات فوق تماماً در چوکات این مسئله جمع بوده از روی این اصل زن شرعاً وقانوناً حق فسخ نکاح از شوهر مفقودالاثر اش دارد و بعد از سپری شدن روزهای عدت ه میل و خواهش خویش با یور و یا شخص دیگر ازدواج کرده میتواند.ناگفته نباید گذاشت که فسخ نکاح و عقد نکاح باید در حضور قاضی در محکمه صورت گیرد بهتر خواهد بود. زیرا که قاضی درباره شوهر مفقود الاثر ایشان فیصلهء تنسیخ نکاح صادر نماید.

(هذا ماعندنا والله أعلم بالصواب)

ارشاد نبوی

بسم الله الرحمن الرحيم

«عن أبي هريرة رضي الله عنه قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم «لا يحل لإمرأة تؤمن با الله واليوم الأخر تسافر مسيرة يوم وليلة إلا مع ذي محرم عليها» (متفق عليه)

ترجمه: از ابو هريرة رضي الله روايت است كه: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمودند و روا نيست براي زنيكه به الله و روز آخرت ايمان داشته باشد اينكه به اندازه مسافت يك شبانه روز سفر نمائيد مگر همراه كسيكه برايش محرم است.

مونږ یو مذهب نه بلکې څلور واړه مذهبونه منو، د دې څلور واړو مذهبونو امامان د دین امامان دي، زمونږ سره د څلور واړو تر منځ هیڅ د توپیر تصور موجود نه دی.

زمونږ سره به هلته تفاوت پیدا کیږي چې کله د څلورو واړو امامانو اقوال په یوه مسئله کې راشي، د کوم یوه قول چې قرآن او سنت ته نژدې وي مونږ به هغه قرآن او سنت ته نژدې قول اخلو.

د شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) له خطبانو څخه